مورچل

خوارلسم کال، څلورمه، پرلپسې ۱۴۰مه ګڼه،
رمضان المبارک ۱۴۴۱هـ ق، اپریل ۲۰۲۰م

د نیکمرغه کوچني اختر د رسېدو په مناسبت

د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ الحدیث

مولوي هِبة الله اخندزاده (حفظه الله)

د مبارکۍ پیغام

- افغانستان و دموکراسی
- د فشارونو ګټې او د ۱۸ کلونو لاسته راوړنې
- د سکات میلرکوانبونه د کوم هدف لپاره؟
- کرونا! اندیښنې اوننکونې!
- داعش یې مینډي وژني، دولت یې ماشومان پلوري!

د بین الافغاني مذاکراتو مسؤلیت دې ادا شي!

د کابل اداره د ولس په قتل عام سره
د سولې سبوتاژ کیدل غواړي!

دافغانستان داسلامي امارت دمذاکراتي ټیم غړی محترم انس حقاني:

دکابل اداره په وظیفوي لحاظ په افغانستان کې د نیابتي جګړې دپر
مخ ورلو لپاره ایجاد او د همدې مسؤلیت لپاره یې تمویل کیږي.

مورچل

علمي، سياسي
او جهادي مياشتنی خپرونه

څوارلسم کال څلورمه، پرلپسې ۱۴۰مه گڼه،
رمضان المبارک ۱۴۴۱هـ ق اپریل ۲۰۲۰م

لړليک

گڼه	مطلب	مخ
۱	سرمقاله	۱
۲	د امیرالمؤمنین مولوي هبة الله اخندزاده د مبارکۍ پیغام	۲
۳	رمضان المبارک د اصلاح یو مهم فرصت	٦
۴	د کابل اداره د ولس په قتل عام سره سوله سبوتاژ	۸
۵	داعش یې میندې وژني، دولت یې ماشومان پلوري!..	۹
۶	افغانستان و دیموکراسي	۱۰
۷	د سکاټ میلر ګواښونه د کوم هدف لپاره؟	۱۳
۸	د فشارونو ګټې او د ۱۸کلونو لاسته راوړنې	۱٦
۹	کرونا ! اندیښنې او لنډګوني !	۱۸
۱۰	د مذاکرتي ټیم غړي محترم انس حقاني سره مرکه	۲۱
۱۱	تنظیم الأوقات داسې نه وي؟	۲۴
۱۲	شهید امیرالمؤمنین ته د شتمنیو نسبت اساس نه لري	۲۷
۱۳	کورونا او د هند مظلوم مسلمانان	۲۹
۱۴	د لویدیځ توره بلا او بدرنګه خپسکه	۳۳
۱۵	د مورچل دارالافتاء	۳۵
۱۶	په جهاد کې زمور اخلاق ....شهادت ته تیاری	۳٦
۱۷	د اسلام غزوات او سرایا	۳۹
۱۹	جنګي جنایتونه (اپریل)	۴۳
۲۰	دمورچل وړمې	۴۳
۲۱	د۲۰۲۰م کال د اپریل میاشتې جهادي خبرونه	۴٦

د امتیاز خاوند

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کمیسیون

مسؤل مدیر

صلاح الدین "صارم"

کتنپلاوی

ایوب صافی	حکمت
معین احمد	حافظ سعید
حسن زوی	موسی فرهاد

تخنیکي چارې

دفرهنګي کمیسیون تخنیکي څانګه

مکاتباتي ادرس

پته: کابل ښار، پنځمه حوزه، دمجلې دفتر
E-mail: morchalmorchal@yahoo.com

سرمقاله

بسم الله الرحمن الرحيم

د بين الافغاني مذاکراتو مسؤليت دې ادا شي!

لکه څنګه چې دېرى شنونکي اتکل کوي دقطر مذاکراتو او له امريکايانو سره لاسليک شوې موافقتنامې دوو لوروته دوه لاسته راوړنې تضمين کړې چې يولورى د افغانستان اسلامي امارت او لاسته راوړنه يې له هيواده داشغال خاتمه ده اوبل لورى امريکا او ناټو ده چې لاسته راوړنه يې په پرده کې له افغانستانه دپښو سپکول دي .

خو بل لورى چې په افغانستان کې دټولو افغانانو خپلمنځي جوړجارى دى لاهم په تېره ولاړ اوله ناڅرګند برخليک سره مخ دى، په دې کې هم شک نشته چې ددغسې ناڅرګند حالت دوام به خامخا بدې پايلې ولري اوروان ناورين به په ناسور بدليږي .

داچې په دې برخه کې څه بايد وشي او مسؤل جهتونه په دې اړه څه ډول خپل مسؤليت اداکړي؟!! دموضوع د حساسيت له درک کولو او دمطبوعاتي رسالت له مخې په دې برخه کې د اړونده جهتونو پام هغه مسؤليت ته را اړوو چې په ترسره کولو سره يې له شک پرته چې په هيواد کې امن راټلى او جګړې دتل لپاره له منځه تلى شي :

په دې کې شک نه شته چې دهيواد دخپلواکۍ اوله غربي اشغاله داستقلال امتياز اسلامي امارت ترلاسه کړى او د دغه امتياز په اساس خو دافغانستان راټلونکى نظام جوړول دولسي ملاتړ په بنا دهغوى حق کيږي، خو داچې هيڅ افغان دې محروم نه وي اوپه حقيقي ډول دې دراتلونکو هر راز ستونزو مخه نيول شوې وي، په راتلونکي کې سوکاله اوپوپرمختللى هيواد ولرو، نو د افغان شموله اسلامي نظام درامنځته کولو لپاره يې دبين الافغاني مذاکراتو طرحه وړاندې کړه .

اوس چې ياد هدف ته درسېدو په لار کې بين الافغاني مذاکراتو ته بهلابهل خندونه رامنځته کيږي او په دې برخه کې دکابل اداري نامناسب او طفلانه حرکات هم د امريکايانو په نيت شکوک را پيداکوي، نو ځکه خو د راتلونکو وخيمو حالاتو او بدو پايلو څخه دنجات لپاره لومړى اسلامي امارت اوبيا په هيواد کې دننه دبانفوذه شخصيتونو، منورينو، جهادي څېرو، متنفذينو، قوماندانانو، ذى صلاحو، مخورو، بارسوخه څېرو، مطرحو جهتونو، ټولو هغو خواخوږو چې وخت په وخت دقضيې دحل لپاره غږ پورته کوي او طرحې وړاندې کوي، دغه راز دکابل اداري په ډانچه کې دبااحساسه خلکو دنده جوړيږي چې په دې لارکې خپل مسؤليت ته متوجه شي اوپه ښه شان يې ترسره کړي نور د وخت حساسيت درک کړي اونه يواځې دکابل اداري سره هردول اړيکې اوهمکارى قطع کړي، بلکې په خپل ټول قوت سره يې په وړاندې ودريږي اودبين الافغاني مذاکراتو په وړاندې له خندونو رامنځته کولو څخه يې راوګرځوي اودپرېکړو منلوته يې اړ کړي .

دغه راز اسلامي امارت هم د دغو نازکو حالاتو او حساسيتونو په درک کولو سره نور وخت ضايع نه کړي او ژر ترژره لاس په کار شي، لومړى دبين الافغاني مذاکراتو ملکيت په لاس کې واخلي او دبين المللي ټولنې ملاتردخپلولو له فرصت نه په استفاده په ښه تدبير سره دبين الافغاني مذاکراتو اجنډا او وخت تعين کړي .

که چېرې بين الافغاني مذاکراتو ته افغاني جهتونه متعهد پاته نه شي او ياد مسؤليت ترسره نه کړي د نظام دشړېدو ترڅنګ به په دې لړ کې دهر رامنځته کېدونکي ناورين پره بيا دهغو په غاړه وي چې شته فرصتونه له لاسه ورکوي اودخپل مسؤليت له اداکولو څخه وروسته کوي.

اسلامي امارت ته به بله لاره پاته نه وي او مجبورا به خپلې مسلحانه مبارزې ته دوام ورکوي ترڅو دهيواد استقلال تکميل ومومي او دامريکايانو پاتې شونې لاسپوڅې اداره چې په هيڅ لحاظ نور دېقا جواز نه لري دمسلحانه جهاد په زور له واکه لرې او په خاى يې رېښتونى افغان شموله اسلامي نظام رامنځته کړي .

د نیکمرغه کوچني اختر د را رسېدو په مناسبت

د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ الحدیث **مولوي هِبة اللّٰه اخندزاده** (حفظه اللّٰه)

د مبارکۍ پیغام

بسم الله الرحمن الرحیم

إن الحمد لله نحمده ونستعينه ونستغفره ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا من يهده الله فلا مضل له ومن يضلل فلا هادي له وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له وأشهد أن محمدا عبده ورسوله.

قال الله عزوجل فی محکم کتابه: إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُّبِينًا (١) لِّيَغْفِرَ لَكَ اللَّهُ مَا تَقَدَّمَ مِن ذَنبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ وَيُتِمَّ نِعْمَتَهُ عَلَيْكَ وَيَهْدِيَكَ صِرَاطًا مُّسْتَقِيمًا (٢) وَيَنصُرَكَ اللَّهُ نَصْرًا عَزِيزًا (٣) الفتح

د افغانستان مجاهد او مؤمن ولس، د سنګر مجاهدینو او د نړۍ تولو مسلمانانو ته!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

د نیکمرغه کوچني اختر د رارسېدو په مناسبت تاسو تولو ته د زړه له کومې مبارکي وایم، الله تعالی مو روژې، تراویح او ترسره کړې تول عبادتونه قبول کړه.

الله تعالی دې د شهیدانو شهادتونه قبول کړي، مجاهدینو او مجاهد ولس ته دې د دوی د خدمتونو او ستړیاوو اجرونه ورکړي، زخمیانو ته دې الله جل جلاله عاجله شفاء او زندانیانو ته نجات او آزادي نصیب کړي.

د شهیدانو کورنیو، خپلوانو او اولادونو ته له الله تعالی څخه د جمیل صبر، جزیل اجر او سپیڅلو ارمانونوته د رسېدو دعا کوم.

مؤمنو هېوادوالو!

غواړم په هېواد کې د روانو حالاتو او جریاناتو په اړه د اسلامي امارت موقف او اهداف درته څرګند کړم.

۱ــ زمونږ جهاد د الله تعالی د رضا، د هېواد د بشپړې ازادۍ او دلته د سوچه اسلامي نظام د حاکمیت په هدف ترسره شوی، په یاد جهاد کې د ولس او مجاهدینو قربانۍ، ستړیاوې، تکالیف او ستونزې په ځان تیرول

له چا پټ نه دي؛ نو د يادو اهدافو د ترلاسه کولو او تحقق په موخه او د فتنو اوخطراتو د مخنيوي لپاره لـه ټولـو هېوادوالو، خصوصا د امارت له ټولو مسئولينو او د سنګر له مجاهدينو څخه غواړم چې خپلو اصلي اهدافوته پـه جدي ډول متوجه شي، خپل صف او قوت لا ډير پياوړی کړي، خپل مينځي يووالی او اطاعت لا کلـک وسـاتي او اداري جوړښت نور هم منظم کړي.

۲ــ دا چې اسلامي امارت د ټولو هېوادوالو ګډ کـور دی او د څلويښـت کلنـو قربـانيو او ارمـانونو د پـوره کېدو لپاره په مبارزه بوخت دی؛ نو د هېواد علماء کرام، روحانيون، استادان، قـومي مخـور، ليکـوالان، شـاعران، ادیبان او ټول با رسوخه شخصيتونه بايد په هېواد کې د سوچه اسلامي نظام د حاکميت، سولې، بيا آبـادی، يـو والي او خپلواک افغانستان لپاره لازياته همکاري وکړي، خپل ټول توان په کار واچوي، خپل مـاحول، شـاګردان او متعلقين په حقائقو آګاه کړي، له خپل ويارلي تاريخ نه يې خبر کړي، د بدبينيو، تعصباتو، اختلافـاتو، اخلاقـي فساد او هر هغه څه سره مبارزه وکړي چې زمونږ مقدس دين، د هېـواد يـووالي او اسـتقلال تـه زيـان اړوي، دغـه بادرکه شخصيتونه دې د افغانستان د اسلامي تشخص، جهاد، د حق لپاره مبـارزې او راتلـونکي نسـل د ويښـتابه لپاره لا هم ډېر کار وکړي، ترڅو مو په هېواد کې د اسلامي او ملي ارزښتونو د سـاتنې لپـاره د قربـانی روحيـه لا ډيره قوي او پياوړې وساتل شي.

۳ــ د نړۍ او سيمې له هېوادونو سره د اسـلامي امـارت سـياسي اړيکـې د پخـوا پـه نسـبت ډېـرې پراخـې شوې، د اسلامي امارت موقف او پاليسي ورته واضحه شوې چې پر بنسټ يې باور او اعتماد رامينځ تـه شـوی، مـوږ د خپلـې پاليسـی لـه مخـې غـواړو چـې لـه اسـلامي هېوادونـو سره د وروړی، لـه ګاونـډيو سره د حسـن همجواری، له سيميزو او د نړۍ له ټولـو هېوادونـو سره ګټـورې اړيکـې لا پيـاوړې کـړو، ترڅـو د سـيميزې او نړيوالې اقتصادي رفاه، امنيت او ګډ ژوند په برخه کې لازم مسئوليتونه ادا شوي وي، له نورو هېوادونو څخـه هـم د ورته ګامونو د پورته کيدو هيله لرو.

۴ ــ هغه جهتونه او اشخاص چې د ا شغال لـه خـاتمې وروسـته د راتلـونکي نظـام پـه اړه انديښـنې لـري، اسلامي امارت يوځل بيا ټولو ته ډاډ ورکوي چې انحصار طلبه پاليسي نه لـري، د هرچـا کـه هغـه نارينـه وي کـه ښځينه حقه حقوق به ورته رسيږي، ځوک به د محروميت او محکوميت احساس ونه کړي او ټولو هغو برخـو تـه به رسيدګي وشي چې د ټولنې په رفاه، پياوړتيا او ابادۍ کې اړين دي، هرڅه بـه د مقـدس شريعـت پـه رڼـا کـې پرمخ ځي. ان شاءالله تعالی

۵ــ ځينې هغه کړۍ چې د بهرنيو استخباراتي حلقاتو د ورکړل شوي پـلان لـه مخـې خپـل شـوم هـدف او قدرت ته د رسېدو لپاره غواړي په هېواد کې د ژبې، قوم، مذهب او نورو عنوانونو څخه په اسـتفاده اختلافونـه او تعصبات را وپاروي، د هېواد يووالی له ګوابښ او خطر سره مخ کړي، بايد پوه شي چـې افغـان ولـس او اسـلامي

امارت دغه راز کړنوته اجازه نه ورکوي، لکه په تیر کې یې چې هېوادله داسې خطرونو څخه ژغورلی بیا هم د دې وړتیا لري چې مخه یې ونیسي ان شاءالله، نو ښه به دا وي چې د داسې کارونو عاملان پخپلو گریوانونو کې سر ښکته کړي، نور په ناسمو اعمالو او افکارو سره دا ملت له ستونزو او مشکلاتو سره مخ نه کړي.

٦ــ د امریکا له متحده ایالاتو سره د تاریخي توافقنامې لاسلیکول او په نتیجه کې یې د اشغال خاتمه د اسلامي امارت او ټول افغان مجاهد ولس لپاره یوه ستره بریا گڼل کیږي او که په صادقانه ډول عملي شي د ټولو جهتونو په گټه ده، اسلامي امارت له امریکا سره لاسلیک کړې توافقنامې ته ژمن دی، له مقابل جهت څخه هم غواړي چې پخپلو ژمنو کلک ودریږي او پرینږدې چې دا حیاتي فرصت ضایع شي، د یادې توافقنامې عملي کیدل، کولای شي چې زموږ د هېواد او امریکا لپاره د جگړې د پای ته رسېدو او په هېواد کې د سولې د راتگ او اسلامي نظام د پلي کولو لپاره ښه وسیله وگرځي.

د امریکا چارواکو ته وایم، چاته باید اجازه ورنکړئ چې زموږ او ستاسو ترمینځ شوې توافقنامه چې په نړیواله کچه منل شوې، له خنډ، ځنډ او بالاخره له ناکامۍ او ماتې سره مخ کړي، په دغه توافقنامه کې هر څه په واضحه توگه لیکل شوي او د دواړو ملتونو په گټه او د ستونزو د هوارۍ لپاره یو ښه چوکاټ جوړوي، چې باید په بشپړه توگه عملي شي، راځئ چې د همدې توافقنامې په تعمیل کې مخ ته لاړ شو ترڅو ستاسو د قواوو وتلو او په افغانستان او سیمه کې سولې او آرامۍ ته لاره هواره شي.

٧ ــ د کابل ادارې په زندانونو کې بندیان په سختو شرائطو او مشکلاتو کې ژوند کوي، په دې اړه بشري نهادونه، بیلابیل خیریه بنسټونه او شخصیتونه باید د مسئولیت احساس وکړي او هرڅه ژر د بندیانو د مصئونیت او خلاصون لپاره لازم گامونه پورته کړل شي.

٨ــ په مخالف صف کې ولاړ کسان که له مخالفته لاس واخلي زموږ لخوا ورته عمومي عفو ده، له ټولو څخه غواړو چې له دې عفوې څخه سالمه گټه واخلي، له مخالفته لاس واخلي او په هېواد کې د سرتاسري سولې او د اسلامي نظام د حاکمیت په لاره کې چې د میلیونونو شهیدانو، زخمیانو، معیوبینو، یتیمانو، کونډو او څوریدلو افغانانو آرمان دی خنډونه ایجاد نه کړي.

٩ــ اسلامي امارت په هېواد کې د ملکي تلفاتو په اړه جدي اندیښنه لري، په همدې اساس یې د ملکي خلکو د ژوند ساتلو او هغوی ته د زیان نه اړولو لپاره ځانگړی کمیسیون توظیف کړی، ترڅو په جگړو کې د مجاهدینو لخوا ملکي خلکوته ضرر ونه رسیږي. که خدای مه کړه داسې کومه پیښه کیږي، قضیه به یې په جدي ډول تعقیب او مقصر افراد به مجازات کیږي.

خو د مقابل جهت لخوا په مکرر ډول ملکي خلک او عامه کورونه تر بمبارونو، د توغندویزو بریدونو او حملو لاندې نیول کیږي چې ځورونکی عمل دی، په دې اړه په بشري برخه کې له کورنیو او بهرنیو ټولو جهتونو ځخه غواړو چې د ملکي مرګ ژوبلې د مخنیوي لپاره مؤثرګامونه واخلي.

۱۰ــ د کرونا ناروغي یوه نړیواله وبا ده، داسې ابتلاوې د الله تعالی لخوا هغه مهال په انسانانو باندې راځي چې کله د الله تعالی له دین، فطرت او انساني معیارونو ځخه سرغړونه خپل وروستي اوج ته ورسیږي، مور باید د الله تعالی ځخه مغفرت وغواړو، په خپلو اعمالو باندې له سره غور وکړو، د الله تعالی حکمونه ترک نه کړو، د اسلام د لارښونو سره سم خپل ژوند برابر کړو، ترڅو له دې وژونکي عذاب او امتحان ځخه وژغورل شو.

د یادې ناروغۍ د کنترول په لاره کې د اسلامي امارت د صحت کمیسیون ته لارښونه شوې چې تر خپله وسه پورې هلې ځلې وکړي، خلکوته طبیي سهولتونه ورسوي او ځومره یې چې په توان کې وي خپل وس ونه سپموي. عامو هیوادوالو ته مو هم توصیه داده چې له دې مرض ځخه د ځان ساتنې لپاره شرعي او صحي تدابیر په پام کې ولري، تر ځو خدای مکړه متضرر نه شئ.

په نړیوالو صحي سازمانونو او مؤسساتو غږ کوو چې زمور له هیوادوالو سره د دې ناروغۍ په مخنیوي کې لا ډیر لاس وکړي او لازم وسائل په اختیار کې ورکړي. اسلامي امارت د کومکي موادو د انتقال او شفافې توزیع په چاره کې له مؤسساتو سره هرې نوعې مرستې ته آماده دی.

۱۱ــ د اسلامي امارت ټولو مجاهدینو ته هدایت کوم چې په دې حساسو شرائطو کې له عام ولس سره له ترحم، شفقت او مهربانۍ ځخه ډک چلند وکړي، د هیڅا د آزار او اذیت سبب نشي ــ تکبر او ظلم ترې ونه شي، له قدرت او امکاناتو ځخه د ملت د آزارولو په لاره کې استفاده ونه کړي، له هرډول ځان او امتیاز غوښتنې، جاه طلبۍ او تفوق ځخه ځانونه په کلکه وساتي، هر افغان د خپل ورور په حیث وبولي او قدر یې وکړي.

په پای کې یادونه کوم چې د اختر په دې مبارکو شپو ورځو کې چې د کرونا ویروس له امله ټول هیوادوال له سختو مشکلاتو سره مخ دي، د خوارو او غریبو خلکو لپاره د کار او مزدورۍ امکان نشته؛ نو باید زمور تجاران ورونه او هغوی چې مالي امکانات لري په مسکینانو باندې شفقت وکړي، د شهیدانو د کورنیو، یتیمانو، کونډو او خپلوانو خاص خیال وساتي او له بې وزلو سره خپله همدردۍ او مرسته ونه سپموي. والسلام

د اسلامي امارت زعیم امیرالمؤمنین شیخ الحدیث مولوي هبة الله اخندزاده

۱۴۴۱/۹/۲۷هـ ق

۱۳۹۹/۲/۳۱هـ ش ــ ۲۰۲۰/۵/۲۰م

رمضان المبارک
د اصلاح یو مهم فرصت

قاري حبيب

الله تعالی خپل مکلف مخلوق انسان په ډیر لوړ او حیرانوونکي کمال جوړ کړی دی. په انسان کې یې عقل، عواطف او بیلابیل احساسات وضع کړي دي. په انسان کې د موجودو غریزو له جملې یو هم نفساني خواهشات دي چې انسان سرکشي او بدو افعالو ته کش کوي. انساني نفس بیلابیل خواهشات او شهوات لري. کوم مکلف انسان چې د ایمان له غوښتنو سره سم په نفسي خواهشاتو برلاسی شي نو هغه په آزموینه کې بریالی دی. الله تعالی فرمایي: وَأَمَّا مَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ وَنَهَى النَّفْسَ عَنِ الْهَوَى. فَإِنَّ الْجَنَّةَ هِيَ الْمَأْوَى [النازعات:٤٠-٤١]

اما که څوک د نفسي غوښتنو تابع شي، د نفس په هوی او هوس پسې لاړ شي نو لکه الله تعالی چې فرمایي: وَلَا تَتَّبِعِ الْهَوَى فَيُضِلَّكَ عَن سَبِيلِ اللَّهِ . . (سورة ص ٢٦) همدا د نفس د هوسونو اتباع یې د ګمراهۍ او له برحقې لارې د انحراف سبب جوړیدلای شي.

الله تعالی لکه څنګه چې په قران کریم کې په صریحو نصوصو سره انسان د نفسي خواهشاتو له اتباع څخه منع کړی، همدا راز یې د انسانانو د اصلاح او پر نفسي خواهشاتو د برلاسی لپاره د روژې په ټوم یو بافضیلته عبادت په مسلمانانو فرض کړی دی.

د روژې مبارکې د حکمت او فلسفې په اړه علماء کرامو ډیرې خبرې کړې دي خو یو شمیر علماء کرامو د روژې لوی حکمت دا بللی چې په دې سره انسان د خپل نفس د اصلاح فرصت پیدا کوي. څکه د انساني نفس له خواهشاتو مهم یې د خوراک، څښاک او جماع هوس دی. د رمضان المبارک په ورځو کې مسلمانان له دې کارونو څخه بند وي، چې په دې دول دوی په عملي

ډول د نفس په خواهشاتو کنترول او برلاسي تمرینوي او په دې ډول کولای شي نفس له نورو غوښتنو هم راوګرځوي.

لکه چې په روژه سره د نفس تر ټولو اساسي خواهشات سرکوب کیدلای شي، همداسې که همت او ریاضت وشي د نفس نورې غوښتنې هم دفع کیدلای شي چې په دې سره د افرادو اصلاح رامنځته کیږي او د افرادو اصلاح د ټولنې، هیواد او ټولې بشرۍ نړۍ اصلاح ته زمینه برابروي.

نو بناء د رمضان المبارک میاشت او د روژې عبادت ته باید په ډیر اهتمام او جدیت سره توجه وشي. نن سبا په هیواد او نړۍ کې ټولې خرابۍ او غمیزې د انساني نفس د سرکشۍ، حرص او ناروا هوسونو له امله رامنځته شوي دي. هغه ديني اخلاقي معیارونه چې انسان ته د اشرف المخلوقات مرتبه ورکوي، نن سبا ورته ډیره توجه نه کیږي. برعکس هر څوک د خپل نفساني حرص او هوس په دام کې نښتي دي. د بل چا په حق تعرض، ظلم، اخلاقي فساد، دکمزورو استثمار، حرص، حسد، ځانځاني او نور فسادونه هغه څه دي چې نړۍ یې له تباهۍ سره مخامخ کړې ده.

که په روژه کې نفس په سمه توګه مهار کړای شي نو دغه میاشتنۍ تجربه د انسان د تلپاتې اصلاح سبب ګرځیدلای شي. لوی عالم او صوفي امام غزالي رحمه الله فرمایي چې د انسان نفس څو مهم شهوات لري. د ګیډې شهوت یعني خوراک، د سترګو هوس یعني ناروا وو ته کتل، د غوږونو هوس یعني ناروا اوریدل، د فرج هوس یعني جماع، همداسې د قوة لامسه او قوت شامه غوښتنې او شهوات. اما د هوس دغه ټول منابع له ګیډې سره په مخالف قطب کې واقع دي. په دې معنی که ګیډه مړه وه نو دغه نور ټول شهوات وړې وي او ګناه ته یې شوق کیږي. اما که ګیډه یا نس وړی شو بیا دغه نور ټول شهوات مړیږي او ګناه ته یې شوق نه کیږي. په دې سره معلومه شوه چې په روژه کې د خوراک نه کول یا وړی کیدل د انسان په اصلاح او د نفس کنترول کې ډیر مهم رول لري.

بناء روژه مبارکه د اصلاح یو ډیر مهم او طلایي فرصت دی. چې باید په سمه توګه ترې استفاده وشي.



د کابل اداره د ولس په قتل عام سره د سولې سبوتاژ کیدل غواړي!

م مبصر

د ثور په ۲۳مه هېواد د ملکي تلفاتو له پلوه د خونړیو پېښو شاهد و. په شپه کې په بلخ کې د کابل اداري الوتکو لږترلږه ۱۰ بېګناه ولسي وګړي شهیدان او ۱۱ نور ټپیان کړل، او سهار بیا د کابل اداري اجرتي ملیشو دو وحشیانه بریدونو په ننګرهار او کابل کې له ګنو ملکي وګړو ژوند واخیست.

د افغانستان اسلامي امارت د ننګرهار او کابل بریدونه له ترسره کېدو سره سم تقبیح کړل ځکه د کابل رژیم د ځواکونو او نورو فتنه ګرو دلو برعکس، ولسي وګړي هیڅکله د مجاهدینو د عملیاتو عمدي هدف نه دي. د ننګرهار د وحشیانه برید پرې د داعش په نوم هغې دلې ومنله چې جنګیالي یې په وار وار کابل اداري ژغورلي، او د کابل برید هم د همداسې کړیو کار ښکاري.

خو له دې هر څه سره سره، د کابل غلامي اداري له جعل او بې اساسه ادعاوو په استفادې دا بریدونه د مجاهدینو پر خلاف د تبلیغاتو او نورو ناوړه اهدافو لپاره کاروي. د رژیم د چارواکو بې اساسه او پر جعل او تحریف باندې ولاړې ادعاوې یې پر خپل ځای، د کابل اداري مشر د دې بریدونو له اصلي عاملینو صرف نظروکړ او دا یې په هېواد کې د جګړې د اور تودولو لپاره بهانه کړل څو له دې لارې خپل واک اوږد کړي، د اشغال د خاتمې ترون مختل کړي او د سولې پر لور د هېواد د تګ مخه ونیسي.

کابل اداره له لویه سره له هېواده د اشغال د ټغر د ټولېدو، د افغانانو ترمنځ د تفاهم او د دې تفاهم په نتیجه کې د افغانانو پر دیني او ملي ارزښتونو باندې د ولاړ نظام د رامنځته کېدو په حق کې نه ده - ځکه په دې سره د دوی له لاسه هر څه وځي. د اسلامي امارت او امریکا ترمنځ د اشغال د خاتمې د ترون تر امضا وروسته دې اداري د بندیانو د ازادۍ د بشري موضوع په لار کې خنډونه واچول، او په دې دول یې یوه حساس وخت کې په هېواد کې د امنیت او سولې راتلو په تراو د بعدي ګامونو مخه ونیوله.

اسلامي امارت خپلو تعهداتو او د ولس دفاع ته ژمن دی، خو په راتلونکې کې د هر دول عواقبو پرې په د مقابل لوري پر غاړه وي ځکه همدا دوي دي چې د ناموجهو دلایلو، بې اساسه ادعاوو او بهلابهلو بهانو په بناء یې د د سولې مخه نیولې ده.

داعش يې ميندي وژني، دولت يې ماشومان پلوري!

شاهد (غزنيوال)

د دشت برچې پر سل بستريز روغتون د داعش په وحشيانه بريد کې (۴۰) کسانو ته مرګ ژوبله واوښتله.

د دغه خونړي بريد ډيرې قربانيانې هغه اميد واړې ميندې وې چې د ماشوم زيږونې لپاره د روغتون ولادې نسايي ځانګې ورغلې وې.

د بريد د عيني شاهدانو د څرګندونو له مخې بريد د قيقا د سهار په نه بجې د يوه تن هغه داعشي لخوا پيل شو چې د ملي اردو لباس يې په تن او د روغتون تر ورودي دروازې پورې يې په بوه سراچه ډوله موټر کې ځان رسولی و.د روغتون دروازې ته په رسيدو سره يې سمدستي د روغتون مخې ته په را ټول شويو خلګو پيرونه پيل کړل چې له امله يې د روغتون د دروازې ساتونکي ژوبل او داعشي له کوم مزاحمت پرته د روغتون داخل ته په ننوتو بريالی شو.

روغتون ته د داعشي په ننوتلو سره په روغتون کې د خطر زنګ ووهل شو او د بې پولې ډاکټرانو د دريو تنو بهرنيو کارکوونکو په شمول سل تنه عمله د روغتون په محافظتي خونې کې پټ شول.

يواځې د روغتون د ولادت په خونې کې چې خواوشا شل تنې ميندې د زيږون په حال کې وې او حفاظتي خونې ته د رسيدو توان يې نه درلود هغوي تولې د قسي القلب داعشي لخوا په نښه او په ډيرې بيدردي سره و وژل شوې.

تر بريد وروسته سيمې ته د امنيتي ځواکونو په رسيدو د يادو وژل شويو ميندو (۲۰) تنه ژوندي پاتې ماشومان د اتاتورک د ماشومانو روغتون ته يوورل شول چې د روغتون سرطبيب جنت ګل عسکر زاده هم ورته د شلو ماشومانو وروړل تصديقوي.

دا چې په دغه وحشيانه بريد کې د وژل شويو مظلومو ميندو او د هغوی د معصومو ماشومانو بې سرپرستي يو تراجيدي لرونکی پېښه وه نو يوشمير زړه سواند کابل ښاريان حاضر شول چې په رضاکارانه ډول د دغو بې سرپرسته ماشومانو پالنه وکړي.

خو له بده مرغه چې هغوی د اتاتورک په رسمي روغتون کې له داسې موقف سره مخ شول چې هغه په وحشت او قساوت کې د قسی القلب داعشي تر وحشت او بربريت ډير بد او بتر و.

دا وحشت د اتاتورک روغتون د منسوبينو لخوا د پيسو په مقابل کې د همدې بې سرپرسته ماشومانو پلورل و.

شکيلا او نازکو دوې هغه کابلی ميرمنې دي چې د دغو بې سرپرسته ماشومانو د ترلاسه کولو په بدل کې تري د روغتون منسوبينو د ماشوم پر سر دوه لکه او ماشومې پر سر يونيم لک افغانۍ مطالبه کړې او دوی د هغوی همدا مطالبه په ژوندۍ بڼه له رسنيو سره شريکه کړې.

بې هويته، بې عقيدې او بې عاطفې داعش که د رمضان المبارک په مياشت کې مظلومې ميرمنې په دا ډول وحشت وژني له هغه نه څکه ګيله نشته چې د هغوي ايجاد او توليد د همدغسې وحشت لپاره شوی.

خو د يوه مشهور دولتي روغتون د رسمي منسوبينو لخوا د بې سرپرسته ماشومانو پلورل ښايي هغه بشري جنايت وي چې داعش يې له خپل ټول وحشت او بربريت سره له تر سره کولو څخه ناتوانه وي...

افغانستان و دموکراسی

حبیبی سمنگانی

هر کسی هر تحلیلی می کند، اما واقعیت اینست که بدون حاکمیت نظام مستقل و خالص اسلامی زیر چتر امارت اسلامی، دیگر هیچ راهی برای بیرون رفت از بحران و معضل کنونی افغانستان وجود ندارد. دموکراسی با همه دست و پا زدن ها، بالاخره ناتوان مانده و آماده است باید گلیم خود را از افغانستان برچیند.

از نگاه دموکراتان، نظام خوبتری از دموکراسی در عرصه حکومتداری در تاریخ انسان ها تجربه نشده، و گویا دموکراسی ثمره تجربه های چند هزار ساله سیاسی انسان ها است. اگر واقعیت چنین است پس باید آن ها، بدون چون و چرا بپذیرند که دموکراسی در افغانستان اصلا وجود ندارد، و روند سیاسی در رژیم کابل محض بازیچه و دست نشانده امریکا و دموکراسی ساختگی است.

در محاسن دموکراسی گفته میشود که دولت دموکراتیک به مردم پاسخ گو می باشد. زیرا در پهلوی دولت منتخب، اپوزیسیون قوی وجود می داشته باشد، تا دولت را از مطلق العنانیت باز دارد و هر عمل خورد و بزرگ آن را با جرات، نظارت کند. اما در افغانستان، در هجده سال گذشته تشخیص نشد چه کسی در دولت است و چه کسی در اپوزیسیون ؟

دموکراسی افغانی با گذشت هجده سال، اصلا ثابت نتوانست که دولت کابل، از سوی مردم منتخب شده باشد. نه تنها طالبان، آگاهان و سیاسیون بلکه هر فرد عادی افغان هم می داند که سران این نظام از کجا و چرا انتخاب می شوند ؟

عجب تر اینکه، اشرف غنی و عبدالله که ظاهرا ۹۰ در صد آرای انتخابات نام نهاد را به دست می آورند، هر دو نقش دولت را بازی می کنند و هیچ یکی شان برای ادای نقش اپوزیسیون آماده نیستند. اغلب متباقی کاندیدان هم برای کرسی به ع یا غ می پیوندند. پس عجب دموکراسی است که

نه دولت منتخب دارد و نه هم چیزی به نام اپوزیسیون.

این هم از عجایب دموکراسی افغانی است که یک زمان عطا نور به حیث والی بلخ، مامور رسمی اشرف غنی بود، اما به حیث رئیس اجرایی حزب جمعیت، او ادعای رهبری اپوزیسیون را هم داشت. خنده آور اینکه همزمان سرپرست حزب جمعیت صلاح الدین ربانی به حیث وزیر خارجه، مقام ارشد دولت کابل بود. گویا هم دولت و هم اپوزیسیون، یا یک تیر و دو شکار.

همین عطا نور که زیر ماموریت غنی، لاف از رهبری جناح مخالف می زد ؛ برطرفی حنیف اتمر از سمت مشاوریت امنیت ملی، از خواست های عمده او بود. اما دیری نگذشت که خودش با حنیف اتمر یکجا شد و به تیم انتخاباتی او، به حیث صدر اعظم احتمالی، پیوست. سپس هرگاه تیم اتمر لغو شد، عطا نور مستقیم به دست اشرف غنی بیعت کرد. یا للعجبا، چه سرگردانی های عجیبی، باز عطا نور داد می زند که مردم چرا مرا دشنام می دهند ؟

همچنان در ستایش دموکراسی گفته می شد که همدیگر پذیری را رشد می دهد و تنوع نژادی، لسانی و مذهبی جامعه را تامین می کند. اما در افغانستان دموکراتیک، خشونت های نژادی، لسانی و مذهبی نسبت به هر زمان به اوج رسیده و سینه کشور برای اقوام و اقشار مختلف این سرزمین تنگ گردیده است. به خصوص نزاع نژادی، وحدت و یکپارچگی کشور را بار دیگر با خطرات جدی مواجه ساخته است.

این یک واقعیت روشن و تاریخی است که امارت اسلامی در زمان حاکمیت خود، ملت را از چنگال خون آشام تفنگسالارانی، که از نزاع نژادی و قومی برای بقای قدرت تنظیمی و شخصی خود استفاده می کردند و کشور را به پرتگاه تجزیه رسانیده بودند، نجات داد. اما همین دموکراسی بود که آن ها را با دستان باز دوباره بر گردن مردم مسلط ساخت.

امروز اگر جنرال دوستم با همه جهالت، خیانت و جنایات بشری، خواب مارشالی را می بیند (و بعید نیست که به این آرمان خود برسد) از برکت دموکراسی است. زیرا دموکراسی با رونق دادن بازار قوم پرستی، او را در نظام دموکراتیک، به رهبر یک قوم تبدیل کرده و حالا باید سهم دلخواه این "بانک رای" را بپردازد. بلی، این سیستم اگر به جنرال فهیم رتبه مارشالی می دهد، پس دوستم از او چه کمی دارد ؟

اصلا شاید ستاره های افغانستان و دموکراسی با هم جوش نمی خورند. افغانستان از دموکراسی و دموکراسی از افغانستان چندان خاطره خوبی ندارد. این هم یک واقعیت است که دموکراسی در افغانستان هر بار به حیث ابزار برای منافع سیاست های استعماری به کار برده شده، و آن دموکراسی که دموکراتان در وصف آن رطب اللسان اند، اصلا درین دیار دیده نشده است.

در سال ۱۹۷۳ میلادی، سردار داوودخان، طی کودتای در برابر پسر- عمویش ظاهر شاه، نظام دموکراسی/جمهوری را در افغانستان بنیاد گذاشت و خود را به حیث نخستین رئیس جمهور کشور اعلام کرد. بسیاری ها بجای ۷ ثور، کودتای داوود را، که به همکاری شاخه پرچم حزب دموکراتیک (کمونیست ها)، در

برابر نظام شاهی، به راه انداخته شده بود، عامل اصلی بدبختی های پنج دهه اخیر افغانستان می دانند. مؤرخان اتفاق دارند که آن کودتا به تائید اتحاد جماهیر شوروی و همکاری برخی از کمونیست های داخلی ممکن شد. قابل تذکر است که داوودخان، به حیث یک ناسیونالیست و چپ گرا شناخته می شد.

داوودخان، که پس از تصاحب قدرت، لاف از نظام دموکراتیک/جمهوری می زد، در زمان نخست وزیری خود در حاکمیت ظاهرشاه، فعالیت های احزاب سیاسی را متوقف کرده بود، در حالی که احزاب سیاسی دارای نقش اساسی در روند دموکراتیک می باشند و دموکراسی واقعی بدون احزاب مختلف سیاسی اصلا متصور نیست.

اما او پس از اعلام نظام جمهوری هم، تغییری در سیاست جاه طلبانه خود نیاورد. او در نظام نام نهاد جمهوری اش، ریاست جمهوری، نخست وزیری، وزارت های دفاع و و خارجه را به دست خود گرفته بود و چندان فرقی با حاکم مطلق العنان نداشت. البته، داوودخان بعضی از مناصب مهم را، به اساس همکاری شان در کودتا، به کمونیست های پرچمی داده بود، که سبب نیرومند شدن آن ها در زمان حاکمیت او شد و بالاخره به منجر به کودتای هفت ثور شد، که به قتل داوود و اعضای خانواده اش تمام شد، و کمونیست ها به رهبری تره کی زمام قدرت را به دست گرفتند.

چنانکه دموکراسی امروزی، به عنوان دشمن فرهنگ و ارزشهای دینی - ملی افغان ها یاد می شود، و امریکا و غرب در عرصه تهاجم فکری و فرهنگی، استفاده شومی از آن کردند، در دموکراسی داوود نیز، فرهنگ و ارزشهای مسلمانان افغانستان، به نام مدرنیسم و نوگرایی، مورد تاخت و تاز قرار گرفته بود. طبعی است که این کار، میان داوود و رعیت مسلمان فاصله ایجاد کرد و او را بیشتر منفور ساخت.

عالم نامدار و نویسنده شهره هندی مولانا سید ابوالحسن ندوی - رحمه الله - در زمان حاکمیت ظاهرشاه، که هنوز داوودخان همه کاره دولت بود و پس از حدود یک ماه دست به کودتا زد، در راس هیئت معتبری از سوی «رابطة العالم الاسلامی» به افغانستان سفر کرده بود، وی در بخشی از خاطرات خود در مقاله اش "در سرزمین مجاهدان و فاتحان" می نویسد :

«از بعضی برادران پرسیدم که چه کسی باعث و محرک این گرایش مهلک بلاد به سوی تمدن غربی و مظاهر فریبنده آن است ؟ و چه کسی سبب شده که زنان افغان نقاب از چهره بردارند و به سوی اردوگاه های نظامی روی آورند ؟

در پاسخ گفتند : سردار محمد داوود خان، پسر عمو و داماد محمد ظاهر شاه»

سپس او می نویسد : «زمانی که از پغمان دیدن می کردیم، قصر داوودخان را به ما نشان دادند و گفتند که قبلا در این مکان مدرسه دینی بوده، که خان آن را به محل دیگری انتقال داده و اینجا را برای سکونت خود برگزیده است. ظاهرا افرادی که گرایش دینی دارند، چندان میل و رغبتی به قوانین و تصرفات او نشان نمی دهند، و به ما اطلاع دادند که او رهبر حزب دموکراتیک ملی است».

دسکاټ میلر ګواښونه دکوم هدف لپاره !

حسن زوی

په افغانستان کې دغاصبو بهرنو قواوو عمومي مشرامریکايي جنرال سکاټ میلر درواني اپریل میاشتې په ۲۸ مې نېټې د کابل اداري دملي اردو دځانګړو عملیاتو دقول اردو ځخه دلیدنې پرمهال وویل چې طالبان باید دسولې لپاره درامنځته شوي فرصت نه ګټه پورته کړي او تاوتریخوالی کم کړي ؛ که طالبان تاو تریخوالی ته دوام ورکړي له ځواب سره به مخامخ شي.

دمیلر ترځنګ دکابل اداري ددفاع وزارت سرپرست خالد هم طالبانو ته ګواښ کړی او ویلي یې دي چې افغان ځواکونه اوس په فعال دفاعي حالت کې دي چې دطالبانو دهر ډول بریدونو ځواب به ورکړي.

یولورته دسکاټ میلر ګواښونه دي خو بل لور ته په دوحه کې دسیاسي دفتر ویاند سهیل شاهین صیب په خپل تازه ټویټ کې لیکلي چې زلمي خلیلزاد او ورسره مل ټیم یې داسلامي امارت دسیاسي مرستیال ملا برادر او دهغه دټیم سره لیدلي ؛ پدې لیدنې کې دبندیانو دچټک خلاصون ، دبین الافغاني مذاکراتو د پیل او دموافقتنامې دبشپړ تطبیق په هکله تفصیلي خبرې وشوې .

همدا راز دافغانستان دبیا رغونې له پروژو دامریکاځانګړی سرمفتش یاسیګار په خپلې ټویټرپاڼه کې لیکلي دي چې دامریکا دبهرنیوچارو وزارت د افغانستان په ملي امنیې او دفاعي ځواکونو مشخص بریدونه له موافقې سر غړونه نه ګڼي او د دوحې ټرون طالبان پر افغان امنیتي ځواکونو له ټولو بریدونونه ، نه منع کوي ؛ دتاو تریخوالي دکمښت اوونۍ کې طالبانو بریدونه په تاریخي ډول کم کړی و خو ترهغې سمدستي وروسته یې بیا خپل بریدونه پیل کړل.

څه موده دمخه هم دامریکا دباندنیو چارو وزیر مایک پومپیو دیومطبوعاتي کانفرانس په ترڅ کې دکابل اداري مشرانو ته دخپلو اختلافاتو دختمولو اودطالبانو سره خبرو ته دکیناستلو دحکم ترځنګ داهم ویلي و چې مور دطالبانو سره کړو ژمنو ته متعهد یو.

دا واضحه ده چې په موافقتنامې کې داوربند هیڅ ذکر ندی شوی نو ځکه طالبان له موافقتنامې په سرغړاوی هیڅوک نه شي متهم کولای.

خو پوښتنه داده چې کله دامریکا دباندنیو چارو وزارت دطالبانو حملې د سولې دټرون نه تخلف نه ګڼي دبهرنیو قواوومشر دهمدې بریدونو په رامنځته کېدو څرنګه طالبانو ته ګواښونه کوي ؟

آیا دامریکا دنظامي اوملکي مشرانو ترمنځ اختلاف شتون لري او که دا دامریکا دقول او فعل تضاد او منافقت دی ؟

ددې پوښتنې دموندلو لپاره لږشاته تلل اړین دي .

له انتخاباتو وړاندې ټرمپ پدې پوهېدلو چې دامریکا ولس دافغانستان له جګړې ځان خلاصول غواړي ؛ شاید شخصاً ده ته به هم داروښانه شوې وه چې

دا جګړه یوه نه ګټل کېدونکې جګړه ده نوځکه یې دانتخاباتو په کمپاین کې دخپلو فوځونو د راویســـتلو او ددې جنـــګ دختمولو وعدې کولې .

کله چې ټرمپ ولسمشر شو نو په لومړیو کې یې دخپلو وعدو سره سم هڅه کوله چې دافغانستان له جګړې ځان راټول او دلته دعسکرو او زرونوملیونه ډالرو بې ګټې تلف کېدو ته دپای ټکی کېږدي خو بدبختانه چې دمادیاتو وګواښغال پلوو او متعصبو فوځي اوملکي لوړ پوړو چارواکو هغه ټبر ایستلو؛ دهغه ذهنیت یې داسې ورېرابرکړ چې کـــه چېـــرې افغانســـتان کـــې امریکايي جنرالانو ته د نظامي عملیاتو بشپړ اختیارات او فوځ ته ښه ډېر ډالر او وسایل ورکړل شي نـو دافغانســتان جګـړه بـه وګټل شي؛ طالبان بـه لـه منځـه ولاړ شي؛ په افغانستان بـه بشـپړه قبضـــه راشي او ددې هېـــواد دزرونو ملیاردو ډالرو پـه ارزښـت دزېرمو د راویستلو په نتیجـه کـې بـه دجنـګ ټـول تـرسره شـوي مصارف راپوره شي .

پرځای ددې چې ټرمـپ دبوش او اوبامـا دناکـامو جګـړه ایـزو سـتراتېژیو نـه عـبرت اخستی وای په پټـو سـترګو یـې ددې مکاروجنـګ خوښـو طـرح ومنله او د ولسمشر کېدو نه کابو ۷ میاشتې پس داګست پـه ۲۲مې نېټې یې دافغانستان او جنوبي آسیا لپاره خپله نوې سـتراتېژي اعـلان کـړه ؛ دسـتراتېژی مهم ټکی دا وچې امریکايې ځواکونه به ترهغې په افغانستان کې جنګېږي چې طالبان مات او دافغانستان جګړه وګټي .

ټرمپ په همدې تمـه دافغانسـتان جګـړې تـه دنـورو عسـکرو درالېږلـو او دمصارفو دزیاتولو پرېکړه وکړه .

دټرمپ دستراتېژی پلي کونکی دنـاټوعمومي قومانـدان جـنرال نیکولسـن تـه دزرونو تازه دمـو امریکـايې عسـکرو، هـرډول حـربي وسـایلو اولامحـدوده اختیـاراتو د ورکول کېدونه پس هغه دخپلو ګودګیانو په ملتیا پرافغانانو د وحشـت ټولې طریقې و ازمویلې ؛دچاپو او بمبارېو یوه بې رحمه نوې لړۍ پیل شوه چې پکې پـه ډېـرې بـې رحمۍ زخت زیات مظلوم افغانان قتل اوټبان شـول ؛ ډېرزیـات کورونـه پـه کنـدوالو بدل او دخپلو سیمو نه دبې ځایه کېدو نوې لړۍ پیل شوه .

خو ناکاموجنرالانو اوجنګ خوښو مشاورینوچې ټرمـپ تـه څـه ویـلې وسره ددې دومره بې ساري وحشتونو بې هیڅ پکې ترلاسه نکړل ؛ نـه یـې یـوه ټوښـت پرمختګ وکړ ؛ نه افغان مجاهد ولس دهېواد د آزادۍ ، داشغال دپای ته رسـولو او اسلامي نظام دقیام له هوډ او ددې لپاره دجاري جهاد نه واوښتل اونه یې هم دطالبانو دماتولو اودجګړې ګټلو خوښونه پوره شول.

ټرمپ پوه شو چې ناکاموجنرالاتواومکارو مشاورینو تېر ایستلې نو ځکه لـه افغانستان نه دخپلو قواوو دویستلو خپل زوړ دریځ ته بېرته راستون شو او کومـو مشرانو چې ددجګړې ددوام مشورې ورکولې او یا یـې پـرې ټینګـار کـاوه هغـوئ ټول یې سپک او له دندو وشړل ؛ دفـاع وزیـر و ، کـه پـه افغانسـتان کـې دبهرنـو قواوو قوماندانان وو اوکه دټرمپ امنیتي مشاورین وو.

خوله دې انکار نه شي کېدای چې دجګړې په ډګر کې مسئول جـنرالان او په فوځ کې ددوئ ګڼ حامیان لام هم شتون لري چـې دجګـړې دوام یـې هـدف دی اوخپلې مـادي ګټـې هـم پـه همـدې کـې ویـني ؛ همـدوئ بـه لـه مـذاکراتو وړاندې او دمذاکراتو په جریان کې داسې څرګندونې کولې چې دافغانسـتان نـه دټولو امریکایانو وتل ناشوني دي ؛ دا دامریکا په ګټـه نـده ؛ دلتـه ترلاسـه شـوې ټولې لاسته راوړنې به په سیند لاهو شي او داسې نور .

همـدوئ دمـذاکراتو پـه جریـان کـې ددې لپـاره عملیـات زیـات کـړي او دولسي خلکو وژلوته زور ورکړی و چې اسلامي امارت مذاکرات لغـوه کـړي خـو داچې داسلامي امارت مشران

دامریکايي مذاکراتي ټيم سره له نېږدې نه په رابطه کې و او دامریکاپالیسي يې څارله پوهېدل چې دا دامریکا پالیسي نه بلکې دجنګ خوښو جنرالانو ورانکاري اوبد نیت دی نوځکه دټرمپ په څېر دوکه نه شول ؛ مذاکرات يې وندرول بلکې هم داسلامي امارت جنګیالو ښه په مېرانه د دوئ ددې وحشت جواب ورکړاو هم يې سیاسي مشرانو دامریکا سره مذاکرات جاري وساتل.

دې فوځي مشرانو به داسلامي امارت ځوابي عملیات دسولې اومذاکراتو مناقض بلل اوپدې طریقه به يې دامریکايي مشرانو دنظرونو بدلولو هڅه کوله چې یوځل کامیاب هم شول او ټرمپ په کابل کې دیوې کوچنۍ پېښې په رامنځته کېدو مذاکرات لغوه کړل خو بېرته ژر په خپلې خطا پوه او دمذاکراتو دبیا پیل لپاره يې خپل مذاکراتي ټیم دوحې ته واستولو تردې چې مذاکرات بیا روان شول اوبالآخره دسولې ټرون رامنځته اوزمور ولس دارام یوڅه احساس وکړ .

خو داسې ښکاري چې امریکايي جنرالان او ددوئ شا ټپونکي دوسلو جوړولو دلویو شرکتونو مالکان لاهم دخپل شرارت له ندي لاس په سر شوي اوغواړي چې په هرقیمت کېږي دسولې درامنځته شوي ټرون لغوه کېدو ته لاري برابرې کړي نو ځکه يې له یوې خوا دګودګیوخواکونو په ملتیا د ولسي وګړو پر کورونو چاپو اوبمبارته زور ورکړی او د طالبانو دخوابي عملیاتو درامنځته کېدو په مقابل کې ګواښونه کوي اوله بلې خوا دکابل ګودګي اداره چې تل دهمدې جنرالانو په لاسونو کې لوبېږي داسې ځه ته اړباسي چې پرې داټرون سبوتاژ کړي .

د۵ زره طالب بندیانو دازادۍ خبره ددې ټرون ډېره مهمه برخه وه خوسره له دې چې دې بندیانو ته دکرونا جدي خطر متوجې دی لاهم داکرغېړنه اداره دټرون دې مهم جز ته ژمنتیا نه ښایي .

ټوله نړۍ پدې پوهېږي چې اوس دامریکايي فوځ مورال دومره لویدلی دی چې نورېې دمجاهدینو په مقابل کې دمخامخ جنګ کولو توانمندي له لاسه ورکړیده .

دکابل اداري ددفاع وزیر خالد که هر څومره باټې ووهي ولس پدې ښه پوهېږي چې نور يې په تمامه معنی اعتبار له لاسه ورکړیدی ؛ وسلوال يې دخپلو فوځي مرکزونو نه تښتي اودلې دلې طالبانوته تسلیمېږي چې ورسره په ډېرې ټېزۍ دکابل اداره دنړېدو پر لور روانه ده. بل لورته دفاتحو مجاهدینو مورال ډېر قوي دی خو داچې داسلامي امارت قیادت دشرعي اصولو له مخې ددښمن سره دکړو وعدو ژمنتیاته ځان مسئول بولي اودهېواد او ولس خیر هم ددې ټرون په بقاکې وینې نو له خپل لورې يې ماتېدو ته نه پرېږدي اوکه مقابل لوری يې خامخا ماتوي نو پروایې نه لري ؛ ددښمن پرضد هسې هم مقدس جهاد روان دی او دالله تعالی په مرسته هسې هم ددښمن شکست یقیني دی.

موږ توافقنامې ته دامریکا دسیاسي مشرانو دژمنتیا هوډ ښکاره کول دښه نیت اظهار او داعتماد دفضا قائمولو په لار کې یو مثبت اقدام ګڼو خوددې ترڅنګ په کلکه داغواړو چې امریکا باید په عمل کې هم خپله ژمنتیا وښایي.

امریکا بایدوضعیت سم درک کړي ؛خپل عسکري مشران باید دټېرو نولسوکلونوپه څېر سرتمګي او د وخت اوفرصت ضایع کولوته پرېنږدي.

که امریکا رښتیا هم خپلو تعهداتو ته ژمنه وي نو باید پر ولسي وګړو دبمبار او چاپوخونخواري لرې ته دپای ټکی کېږدي ؛دخپلو نظامي مشرانو د نامسئوله اظهاراتو مخه ونیسي او دکابل اداره د ۵ زره بندیانو د ازادۍ منل شوي خبرې زر تر زره عملي کولو ته اړباسي.

که امریکا داسې ونکړل نو توافقنامې ته دتاوان رسېدلو ټوله پره به دامریکا پر غاړه وي .

سعد کتوازی

د غشارونو ګټې او د ۱۸ کلونو لاسته راوړنې

تقریباً له دوه کاله هغه مهال راهیسې چې امریکایان له خپلې سرتمبګۍ را ستانه او له طالبانو سره د خبرو مهز ته کېناستلې، دوه نا اشنا شعارونه او پلمې ورسره ښه په درز کې تبلیغوي، یو یې چې د دوی پر اصطلاح پر طالبانو د جګړه ایز فشار نوم ورکول کېده د سولې بهیر سره هم مهال د سولې ضد پر عام ولس د شپنیو چاپو، بمبارۍو، د وړو او غټو وسلو بریدونو، عام المنفعه خایونو ویجاړولو، تولوژنې، د شخصي املاکو او عفتونو د لوټلو او له منځه وړلو لړۍ ترپخوا چټکه او تر ولس پورې ځانګړي کول و، له دې سره افغانان تر خپل منځ پر قومي، سمتي، مذهبي، ژبنیو او... تربګنیو سره وېشل او د تش پر نوم خپلمنځي اختلافونو او ناندرېو پر سکروتو تېل پاشل و.

د دې ترځنګ یې پر طالبانو د تولنیز او مذهبي فشارونو پر نوم هم یو نا اشنا اصطلاح وه چې له مخې یې د طالبانو پر وړاندې ګرم او ساړه، پټ او ښکاره تبلیغات او د هغوی د روان جهاد مذهبي مشروعیت په اړه شکوک او شبهات رامنځته کول چې یو یې د سولې حرکت پرنوم یوه ناکامه استخباراتي دسیسه هم وکارولې، خو قربانیان د دې ټولو عام ولس وه، طالبانو ته خیر خیرت وه، که به د پخوا په ښار ښکار پر لاس ورغی صرفه یې نه پر کولې او که به یې ښکار ونه موند نو د ولس پر سر به یې په متقابل غبرګون کې پر امریکایانو او د هغوی پر لاسپوڅو ناتار جوړ کړ او خدای شته ټول به یې هم دروند ختو.

په دې ډول طالبانو یاد فشارونه ټول په خپله ګټه تغیر کړل او که رښتیا ووایو د مذاکراتو پر مهز یې دومره ګټه ورته وکړه چې له دې پرته یې امکان نه لیدل کېده او دا څکه چې له یوې خوا طالبانو په مذاکراتو کې پر امریکا تر ټولو سخت فشار ته ارتیا لرله، له بلې خوا یې پرې د بریدونو زیاتولو او توندولو پرته د فشار کومه حربه هم نه لرله او تر دې هم د اندېښنې وړ دا چې د سولې خبرو او د طالبانو د فشار یادې یواخینۍ حربې ترمنځ بشپړ تکر هم موجود و چې له امله یې دوی له یو بېچلي نزاکت سره مخ ول.

له یو لوري د فشار ارتیا، له بل لوري د فشار هیڅ وسیله نلري او کومه چې لري هغه بیا له سولې سره کاملاً په تضاد کې او د استعمال امکان یې نشته، نو د یوې داسې طریقې ارتیالیدل کېده چې له همدغې د سولې مضادې او ورسره تکر وسیلې څخه له همدغه تضاد سره کار واخلي او فشار وارد کړي، همغه و چې د امریکایانو هر اړخیزو فشارونو طالبان بالمثل ځواب ته اړ کړل، د هغوی یاد ناممکن فشار یې ممکن کړ او لاره یې ورته پرانیستله.

د مذاکراتو له پیله تر پایه د امریکایانو له تګیو برګیو او په ځانګړې له فشارونو څخه یې د طالبانو استفاده چې د کب۱۰مې پر ترون متنج شوه مسلمانو ملتونو او ازادې غوښتونکوکو قوموتو ته له ځان سره ګټې پیغامونه لرل چې یو یې د مقابل جهت او یا مطلق اقدامي فشارونو څخه استفاده او د ځان پر ګټه تغیرول دي.

دوهم یې د۱۸کلونو لاسته راوړنو شعار دی، که څه هم پر امریکایي اشغال څه باندې۱۹کاله اوږي، خو د۱۸کال په لومړیو کې د مذاکراتي بهیر له پیل سره سم د دوی کښت له کوم حاصل پرته پای ومونده او له هغه را وروسته یې موخو ته له رسېدو څخه د بشپړې ناأمیدۍ له امله د فشارونو پر نوم له عام ولس څخه غچ اخیستلو ته ملا وتړله، همدا لامل دی چې پر دغه نوم د ولس پر وړاندې د امریکایانو کړنې د طالبانو پر وړاندې د امریکایانو د جګړه ایز مأموریت په پرتله خورا زیاتې بوږنونکې او خونړۍ وې.

۱۸کاله خو دوی د لاسته راوړنو!! موده یادوي، خو دا چې د چا لاسته راوړنې؟ کومې لاسته راوړنې؟ او له کومه یې تر لاسه کړې؟ باید ووایو چې د تېر۱۸کلونو جګړې او وحشتونه یواځې د غرب او امریکایانو د موخو لپاره پر افغانانو تپل شوي چې عمده یې غربي فرهنګ رواجول، عیسائیت خپرول، د سیکولرو روزنه او دیموکراسي پلي کول، افغانستان خپل مستعمره ګرځول او دلته د شته تبیعي زېرمو او شتمنیو لوټل و، خو چې دا د افغانانو له ملي او اسلامي ارزښتونو سره په تکر کې او د هغو د له منځه وړلو په مانا دي، افغانانو له خپلو ارزښتونو کلکه ننګه وکړه او لله الحمد د یادو شومو موخو په برخه کې د امریکایانو لاسته راوړنې په صفر کې ضرب شوې.

د کورنیو کمونستانو او د توپک او پاتک سالارانو شخصي موخو ته که څه هم د۱۸کلنې جګړې په موخو کې خای نه و، خو چې نومورې غربي ګټو ته په ژمنتیا او د هېواد او ولس ملي او اسلامي ارزښتونو په مخالفت کې تر غربیانو ورهاخوا او وړاندې ول او له بل لورې یې د کمونیستي او بیا پاتک سالاري خرمستي، او شخصي ګټې هم

پـکي تبعـاً خونـدي وې، د بـادو دواړو دورو سرسـخته خپلمنځي دښمنيو او بلا ورانيو او قربـانيو تـه يـې پـکي شـا کړه، يو او بل ته يې پکي لاس ورکړ او دا دی چې۱۹کاله کـې يې هماغه د غبرګو تورو دورو فضاء رامنځته کړې چې مـوږ يې د هغه مهال په پرتله د بوږنونکـو او مـاډرنو وحشـتونو، غارتونو، لوټماريو، عفـت لوټنـو او هـرډول د سـوال غلاميـو، بې ناموسيو او خرمستيو شاهدان يو.

د کمونيستي نظام، ترې را وروسته ملـوك الطـوائفي، ۱۹کلن غربي نظام او په ټوله کې ۴۰کلني جګړې او هغه څه چې دغه نظامونه يې خپلي لاسته راوړني ګڼي د ټولو بيه يې پر لوړ معيار او درانه تول له ولس څخه وړې او لـوټلې دي، د کمونيستي دور ميليونونه نفوس قرباني، د ټوپك او پاټـك سالارۍ د وحشتونو توري تيارې او دا ۱۹کاله غربي جګړه او د يادو تورو دورو خونخوار قوماندانان پر همدې ولس تپـل شوي چې پر مټ يې نظام د غربيانو او د همدوی لـه لـوري رامنځته شوی، خو پر ولس د تپلو چاره يې د ګوتو په شـمېر د ولس رايي، ځواك، عسکر، پوليس، اربـکي، ګـارد او...يـې د ولس بچيان او د لوټمارۍ او غلاوو لاسته راوړني يې د ولس حقوق او املاك دي، په دې توګه د پرديو بشپړو نظامونو او د هغو د لاسته راوړنو!! بيـه يـې ولـس پرېکـړې، هغـه يـې ښکار ګرځېدلی او خپل هرڅه يې پکې له لاسه ورکـړي چـې له امله يې اوس زموږ هېواد له هره اړخه وروستو پاتې دی.

اوس که دوی۱۸کلني لاسته راوړني يادوي همدغه بـه وي چې کمونستانو د لومړي جهاد او جنګسالارانو د اسلامي امارت د بريا له أمله له لاسـه ورکـړې وې، لـه دې پرتـه خـو دغه لاسته وړني چې دوی يـې د خونـديتوب شـعار زمزمـه کوي کاملاً مبهمي او هيڅ ملموس وجود نلري.

نو دې پايلي ته رسېږو چې نظام غـربي، پرسـونل يـې غربي مؤظفين دي چې له غربيانو رول اخـلي او لا لـه مخـکي په بهرنيو هېوادونو کې د همدې لپاره روزل شوي، پـه صـفر کې ضرب لاسته راوړنې يې د غربيانو دي، له طالبـانو سره د تړون له مخې دې هرڅه تـه د پـای ټکـی غربيـان ږدي او د شويو توافقاتو عملي کول يا پر طالبانو د فشار په توګه پکـې ځنډ او ترې تخطی د غربيانو له لـوري تـرسره کېږي او...لـه دې سره چې بيـا هـم پـر يـو او بـل نـوم دا هرڅـه د نظـام مؤظـف پرسـونل تـه منسـوبېږي بېځايـه د هغـه د پرسـولو ډراماتيکه هڅه ده اوبس.

د غـربي نظـام پرسـونل د سـوال غلامـي پـه دومـره اخلاص پـرمخ وړي چـې د بـادار هرڅـه يـې خپـل ګڼـي، لـه کمونيستي او ټوپك سالاري راسي يـې هـدف ورسره يـو دی، دې هدف ته رسېدو په لاره کې تر هغه زيات جـدي او پـه هيڅ صرفه نکوي او لکه چې له پيله غربي تـاړاك د دوی پـه مرسته زموږ په خاوره قـدم ايښی او ۱۹کالـه يـې همدغـه غلامانو د دفاعي کمربندونو رول ترسره کړی، په پای کې يې بياهم پر ځار د وتلو لپاره هر جرم، جنايت، غدر، خيانت او تخطاګاني له ورکړل شوي رول سره سم پر ځان منـي، ځانتـه يې منسوبوي او ځان پکې مستقل تبليغوي.

د ګرنګ د غاړي اوسنی مخ پر زوال غربي نظام نه لـه پيله د ولس پر رايو رامنځته شوی، نـه يـې هـم تـر اوسـه د ولس پر رايو دوام موندلی او له همدې أمله يې هرڅـه هـم د غربي ګټو لپاره دي چې په تبېعي ډول د هېواد او ولس له ارزښتونو او ښېرازۍ سره پـه ټکـر کـې دي، لـومړي انتصابي ولسمشر حامد کرزي پرې په دې وروستيو کې خپله اعـتراف کـړی چـې پـه دواړو دورو کـې امريکايـانو کېنـولی و او د اشرفغني دوه دورې خو ښکاره پر ښکاره ټول ولـس او نـړۍ ليـدلې چـې لـومړی ځـل د امريکايـانو پـر لاس ګډولـه اداره رامنځته شوه او دا ځل يې نور هـم برخليـك بـدتر شـو چـې امريکايانو د بياځل ګډولې رامنځتـه کولـو سـمبوليکه هڅـه وکړه، خو اوس يـې د تشـو ګواښـونو، فشـارونو او د کورنيـو زړو او سولېدليو ګوډاګيانو پرمټ له تېر څخه پـر ليږ تـوپير ګډوله رامنځته کېدونکې ده.

دغه پرديپال نظام په خپله ټولـه تاريکـه دوره کـې د يو ګوډاګي پوليس او مؤظف رول تـرسره کـړی، تـرسره کـوي يـې چـې اوسـني ګـوډاګي اشرفغـني بيـا بيـا منلـې او د امريکايانو له لوري ور کېدونکي رول کې پـر اسـتخدام کړيـو عسـکرو غږونـه کـوي چـې تاسـو د پرديـو لپـاره زمـوږ پـه استعمال کې ياست، ژوند او مرګ مـو دواړه د هغـوی لپـاره دي او عملاً چې دغـه نظـام هرڅـه تـرسره کـوي يـواځي لـه امريکايانو ورکړل شوی رول او دنده وي.

له همدې امله له طالبانو سره د امريکايانو د تړون د توافقاتو په برخه کې چې په ښکاره د دغه تش پر نوم نظـام د پرسونل پرمټ کوم پيش وپس ترسترګو کېږي د امريکايانو له لوري پر طالبانو د فشار په غرض ياد پرسونل ته د ورکړل شوي رول له مخې وي، د امريکايـانو لـه مـوافقې د نظـام د پرسـونل تخطـی يـا ور کـې ځنـډ امکـان نلـري، بلکـې ورتـه منسوبول يې بېځايه د دغه پرسـونل پرسـول او لـوړ ښـودل دي، البته خپل رول يـې چـې د مـذاکراتو لـه پيلـه لا ورکـړل شوی همدا مخالفت دی.

نو ځکه دوی که هرڅـه کـوي دا هـم بايـد ورسره پـه ډاګه ووايي چې د امريکايانو لخوا همدا دنده را کړل شـوې، په نورو نومونـو څـوك نـه غـولېږي، د تـړون د توافقـاتو پـه عملي کولو کې واقع کېدونکی ځنـډ، تخطـی او لـه دې لاري پر طالبانو فشارونه په مستقيم ډول پر امريکايانو اړه لـري، خو په باور سره ويلای شو چې ګټه به يې بياهم همغـه وي کومه چې يې د مذاکراتي بهير د مهال ټګيو برګيو او فشارونو وه، نوره به هيڅ ګټه ونلري ان شاءالله.

کرونا! اندیښنې او ننګونې!

اوس مهال په نیږدې ټوله نړۍ کې دکرونا وایروس خوریدو له امله «لاک ډون» جریان لري، دبازارونو په ګډون دعامه تفریح ښونه، پارکونه، د هوائي الوتنو شرکتونه، عمومي ترانسپورټونه، ښوونځي، لیسې، پوهنتونونه او مدارس تړل شوي دي او دخلکو دګڼې ګونې په محفلونو او اجتماعاتو کلک بندیزونه پلي دي.

له حرمینو شریفینو څخه نیولې، په ټولواسلامي او غیراسلامي هیوادو کې اسلامي دیني مراکز او مساجد هم د خلکو ورتګ په وړاندې تړل شوي دي اودمحدود شمیر خلکو پرته نورو خلکوته پکې دلمونځونواداء کولو لپاره اجازه نشته اوپه ځینو ځایونو اوښارونوکې ترسختو شرایطو لاندې مسجدونو کې دلمونځونو اداء کولو اجازه ورکړل شوې ده،خو دهغو نه رعایتولوپه صورت کې پولیس واک لري چې مسجدونوته ننوزي او قلفونه ورته واچوي.

په ورته توګه له تیرو څو میاشتو نه حرمینوته دعمري په سفرهم بندیزلګیدلی دی او هیڅوک نه پریښودل کېږي چې د عمري اداءکولو لپاره مکې مکرمې ته لاړشي، همدا راز په نړیوالو سفرونو کلک بندیزونه پلي دي، نړیوالې اوکورنۍ الوتنې ځنډول شوې دي،هیڅوک نشي کولی چې له یوهیوادنه بل هیوادته یا پخپل هیوادکې له یوښارنه بل ښار ته سفر وکړي.

نړیوال میډیایې چینلونه شپه ورځ په دې لګیادي چې دخبرونواوتبصرو په مټ نړۍ کې ډار اوترهه خوره کړي،او دنړۍ په مختلفوهیوادوکې دکرونا ناروغۍ سرایت په اړه ډارونکي خبرونه او راپورونه نشرکړي، دخلکو دمرینې اومتضررکیدو په باب دمبالغې ډک خبرونه خپاره کړي اوهرځو دقیقې پس دخبرونو سرټکي په نړۍ کې کرونا باندې داخته کسانوشمیرې ښودل دي، چې دومره شمیر خلک پرې اخته؟ او دومره شمیر مړه شوي دي...؟ ددې په اوریدو سره هرسړی پریشان او اندیښمن دی اوپه یو لوی روحي ډارکې مبتلی دی.

ټوله نړۍ کې دمیډیا بې مهاره تبلیغ خلک په قوي اضطراب کې اچولي دي،هر انسان، هره کورنۍ او خلک یو ډول روانې ورځطاتې او نا ارامې محسوسوي.

دحکومتونوکردارهم یومخ غیرشفاف او ددې وړندې،بریښې داسې لکه چې هغوی په زور غواړي کرونا باندې داخته کسانو شمیرلوړ زیات ښودو سره له نورو هیوادو سره سیالې کوي،داددې لپاره چې دکرونا ناروغانو دلوړې سلنې په ښودو له خارج نه دزیاتو کومکونو اومرستو ترلاسه کولو چانس لري.

په روغتونو کې هم وضعیت د پوره ډاډ وړندې، ددې داکټرانو یا طبیبانو له رویې ښکاري چې هغوی رښتیانه وایي، بل داسې نه جوتیږي چې هغوی دکومې لویې وبا له جدي ننګونوسره مخ دي! یواځې

دماسکونو په اچولو خپلو مراجعینوته دیوتاروغ حالت ذهنیت ورکوي، چې هغه دوی د یونري ماسک په اچولو بندول غواړي! هغوی خلکوته له حقیقت ویلوڅخه ډډه کوي، په ډیروڅایونو کې خلکولیدلي چې ډاکټران کوښښ کوي په کرونا داخته شویو کسانو شمیرني لوړې وښیي او ټینګارکوي چې حکومتونه دي د لاک ډون غځولو اوپه خلکو لګیدلي بندیزونه نورهم تمدید کړي.

دهغوی رویې ته په کتو نړۍ کې ډیری خلک تشویش لري او داسې فهموي چې داهرڅه په مصنوعي بڼه جوړکړی شوي، خلک پوره ډاډمن ندي چې ایا رښتیا دا یو طبعي وایروس پیداشو دی؟ دخلکو لوی شمیر په دې باوردي چې دا مصنوعي اوپه لیبارټریوکې جوړکړی شوی وایروس دی،دځینو نورو په اند: دا دمصنوعي وایروس یوکیمیاوي بریدکیدی شي!چې دنړۍ سترو هیوادودازمویني په موخه دچین له اووهان ښاره نړۍ ته خورکړی ،هدف یې دنړۍ ګوښل او تهدیدول دي، اوخپلوموخو او ارادو ته یې ځملول اوتابع کول دي،څو راتلونکي کې دنیاوال د«نیو ورلډ اردر»له اجندا سره دمخالفت کولو جرئت ونکړي

بنأخلک دمیډیا له لارې په لوړه پیمانه روان تبلیغ اوخبري پوښښ جعلي بولي، اوهغه ارقام چې ساعت په ساعت دمیډیا له لارې ترخلکو رسي په رښتنولی یې هیڅوک باور نلري اوپه باب یې دشکوکو اظهار کوي، هغوی فکرکوي چې نړیواله میډیا باندې په لوی حساب پانګونه شوې ده اوورته نړۍ کې دخلکو داغفال او ډارولو برنامه سپارل شوې ده

دکرونا وایروس په اړه ډېره اشتباه په امریکا ده،چې هغه غواړي له دې وایروس نه په ډارخورولو سره نړۍ کې هیوادونه دخپل حکم اوفرمان تابع وګرځوي،په امریکا کې دوایروس خوریدو اوهلته درامنځته شوې مرګ ژوبلې په اړه ارقام هم خلک یقني اوحقیقت نه بولي، ولې که رښتیا هم امریکاکې یې دومره زیانونه رسولي وی، نن به له ډاره ټول امریکایان مړه وی، زکه امریکایان زیات ډارن اوبزدلان دي، هغوی ددومره مرګ ژوبلې خبرونو داوریدوزغم هم نلري که حقیقت وی اوس به هغوی له ډاره امریکا ترک کړې وه کوم بل هیوادته به کډه شوي وو .

په دې برخه کې ترټولو زیات شک دامریکا او نړۍ په مشهورشتمن بیلګیټس کېږي، چې هغه په دې مسئله کې مرکزي کردارلري،هغه یومتعصب امریکایي اوعیسوي دی، پلان لري چې خپله ټوله شتمني دکرونا وایروس مخنیوي واکسین په جوړولو ولګوي،اوپه دې کې دامریکا دحکومت مرسته هم ورسره شته ده، کله چې دهغه واکسین بازارته راشي،نو دشک پرته هغه به ډیرټود بازار ولري،نو بیلګیټس کوښښ کوي چې دمیډیاچینلونوته زیاتې پیسې ورکړي څو هغوی نړۍ کې دکرونا خطرپه اړه دمعلوماتو خوروړلو لړۍ روانه وساتي اوپکې وقفه ونکړي، په ورته توګه بیلګیټس نړۍ کې په حکومتونو اوچارواکو سربیره دمیډیا په ځیرپه ډاکټرانو هم پریمانه پانګونه کړې ده، څو دده لخوا د واکسین ترجوړیدو پورې نړۍ کې لاک ډون جاري وساتي. او څنډ پکې رانه شي، بیلګیټس خپله دهیوادونو صدر اعظمانو او ولسمشرانوته تیلفونونه کوي او دهغوی نه په کلکه غواړي چې دکرونا په اړه ګرځېندیزونه یا لاک ډاون دي نورهم وغځول شي څو خلک تر فشارونو او ډار لاندې وي.

دبیلګیټس په دې پلان کې یهودان هم شریک اوسهیم دي،هغوی په نړۍ دیهودانو داجاره داری

نظام منلولپاره دامریکایانو دنیو ورلډ اړدر له مفکورې نه ملاتړکوي، بلکې دهغوی په غوښتنه امریکادنړیوال نظام مفکوره رامنځته کړې ده چې ټوله نړۍ اوخلک به دیونړیوال ،نظام او واحدنړیوال سیستم تابع ګرځوي او ټوله نړۍ به دیو نظام او یو مرکزیت نه رهبري کېږي.

دیته په کتو پلان جوړولوکې نړیوال بانګ هم مؤثراوکلیدي رول لري،کوم چې له وړاندې څخه د الف نه تریې پورې ټول د یهودانوپه کنترول کې دی،او په بهانه یې دټولې نړۍ هیوادو تضمین پانګې هغه(بانګ) کې یهودانو او امریکا یانو له ځانوسره ګرو ایښې دي ،نړیوال بانګ دهغوهیوادولپاره چې دکرونا وایروس نه زیات متاثرشوي دي، سوونه ملیون ډالر مرسته ورکوي او هم پر کومو هیوادوچې دنړیوال بانګ پورونه شته دي، هغوی سره دقسطونو په اداء کولوکې یې د تخفیف اعلان کړی دی، په دې وجه نړیوال بانګ دخپل مؤثریت نه په استفاده په هیوادونو اوحکومتونو زور راوړي چې هغوی دي خپلو هیوادوکې دي دلا ک ډون ځځولوپر پالیسې کلک عمل وکړي او داوړدي مودي لپاره دي خپل بازارونه اوپابریکې تړلې وساتي .

دکتونکوپه اند: دا کارونه به امریکا او یهودانو ته لاندې څو مهمې بریاوې یا ګټې په لاس ورکړي:

لومړی به په نړۍ کې خلک داقتصادي پلوه دومره وځپل شي، چې هغوی ته به ګرانه وي چې دامریکا، یهودانو او نړیوال بانګ له مرستو پرته دي خپل هیوادونه او حکومتونه په سمه توګه په پښوودرولی شي، ددې لپاره به هغوی دیته اړوي چې دنیو ورلډ اړدر لاندې دترخونه ترخوشرایطو منلو ته هم غاړه کېږدي....

دوهم اسلام او مسلمانان به سخت وځپل شي، اسلامي مدارس ټړل اودیني مراکزبندول دیهودانو او امریکا پخوانۍ غوښتنه اوارزو ده، په دې سره به د دوی داپخوانی ارمان هم پوره شي، چې اسلامي هیوادوکې په دیني مدرسو اومسجدونو لګیدلي بندیزونه نورهم تمدید کړی شي، په دې توګه به دیني تعلیم وتربیه محدوده پاته شي او په راتلونکو کلوکې دخوریدو ځخه کومه اندیښنه چې دوی لرله هغه به هم کنترول شي .

درېیم دبیلګیټس واکسین په پلورلو سره به پخپله بیلګیټس، نړیوال بانګ، یهودان اوامریکایان په سوونو او زرګونو ټریلین،ډالروګټي اوخپل اقتصادونه به نورهم قوي کړي.

ځلورم امریکا به دنړۍ هیوادونو تابع کولو لپاره دبیلګیټس واکسین ځخه دیوې تزویرې حربې په حیث هم کار اخلي هغه هیوادونه چې له امریکا سره مخالفت لري، هغوی ته په راکړه ورکړه به یې بندیزونه لګوي اوهغوی ته دکرونا وایروس ور انتقالولو لپاره به تل پتې او مرموزې دسیسې کاروي

لنډه دا چې نړۍ دیوې پراخې اوجدي تباهې په لور درومي، خصوصاً مسلمانان دیو ډیرخطرناک او بد راتلونکي سره مخ دي، داسلامي هیوادو واکمن دغفلت په خوب هغسې ویده دي، هیڅ بیداري او فکرمندي نلري، یواځې هغه اجرائت پلي کوي دکومو چې د امریکا او نړیوال بانګ لخوا ښوونه کېږي، خپل درایت او اختیار نلري نو الله تعالی دي دمسلمانانو دنجات لپاره غیبي نصرتونه راولیږي کنه ظاهري اسبابو ته په کتو مسلمانان دکافرانود سازشونو په نتیجه کې ممکن د هغوی په داسې لویو دامونو کې ښکېل کړی شي چې دهغونه دوتلو به بیا هیڅ چانس ونلري.

د اسلامي امارت د مذاکرتي ټيم غړی محترم انس (حقاني)

له مورچل مجلې سره په مرکه کې:

دکابل اداره په وظیفوي لحاظ په افغانستان کې د نیابتي جګړې د پر مخ وړلو لپاره ایجاد او د همدې مسؤلیت لپاره هغوی تمویل تر لاسه کوي

درنو لوستونکو!

داسلامي امارت له چارواکو سره د مرکو په لړ کې مو دا ځل د هیواد د وروستیو مهمو سیاسي پیښو په اړه د اسلامي امارت د مذاکرتي ټیم غړي محترم انس (حقاني) صاحب سره مرکه کړې چې لوستلو ته یې ستاسي پام راګرځوو:

پوښتنه:

د اسلامي امارت او امریکا ترمنځ داشغال دخاتمې د ټرون نړدي دری میاشتې تیریږي ، ستاسي له نظره د افغانستان په داخل کې په عملي لحاظ د دې ټرون مثبت اثرات څه دي؟

ځواب :

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمدلله ، والصلاة والسلام علی رسول الله و علی آله ومن والاه وبعد.

په پیل کې باید ووایم چې د افغانستان د اسلامي امارت او امریکا ترمنځ ټرون په افغانستان کې د جګړې د خاتمې او بهرني اشغال د خاتمې په لاره کې یو مهم اقدام و چې تر سره شو.

اسلامي امارت د یاد ټرون د محتویاتو عملي کیدو ته متعهد او په دې لاره کې یې جدي ګامونه اخیستي.

که څه هم چې د یاد ټرون د عملي کیدو په لاره کې کابل اداره ډیرو موانع او خندونه ایجادوي خو بیا یې هم عملي اثرات لیدل کیږي چې د بیلګې په ډول یې د اسلامي امارت د خواوشا زرتنه بندیانو خلاصون او پرکلیوالو سیمو باندې د امریکایي ځواکونو د هوایي بمبارونو او شپیو بریدونو نسبي کمښت دی.

پوښتنه:

ستاسي له نظره کابل اداره ولې د دې ټرون د عملي کیدو په لاره کې خندونه ایجادوي؟

ځواب: کابل اداره د اسلامي امارت او امریکا ترمنځ داشغال دخاتمې ټرون عملي کیدل د خپل ځان د فنا لامل بولي.

ځکه هغه په وظیفوي لحاظ په افغانستان کې د نیابتي جګړې د پر مخ وړلو لپاره ایجاد او د همدې مسؤلیت لپاره هغوی تمویل تر لاسه کوي.

که نن په افغانستان کې جګړه توقف کوي خود بخوده ورسره د کابل اداري کاري مسؤلیت هم پایته

رسيږي چې دا کار هغوی د خپل ځان د انعدام او فنا کيدو لامل ګڼي.

ځکه نو کوښښ کوي چې د سولې تړون د عملي کيدو په لاره کې ستونزې او موانع ایجاد کړي.

پوښتنه:

د بين الافغاني اجتماع دائريدل د اشغال دخاتمې تړون له مندرجاتو څخه يوه بله ماده وه، تر اوسه پورې د دې مادې د عملي کېدو لپاره څومره کار شوی؟

ځواب:

د اشغال دخاتمې تړون د مندرجه موادو د عملي کيدو لپاره يو زمني ترتيب په پام کې نيول شوی چې د هغه له مخې به بين الافغاني اجتماع د اسلامي امارت د ۵۰۰۰ بنديانو تر خلاصون وروسته دائريږي.

اسلامي امارت له امريکايي جانب سره په مسلسلو ناستو کې له هغوی نه په جدي ډول دا غوښتې چې کابل اداره ژر تر ژره د اسلامي امارت د تولو ۵۰۰۰ زره بنديانو خلاصولو ته اماده کړي.

د ۶۰۰۰ بنديانو خلاصون د سولې د تحقق په لاره کې يو مهم ګام دی چې د هغه په بشپړيدو سره به د بين الافغاني مذاکراتو مرحله پيليږي.

پوښتنه:

د اسلامي امارت او امريکا ترمنځ د موافقتنامې په لاسليکيدو کې د قطر هيواد رول څه ډول ارزيابي کوئ؟

ځواب:

د اسلامي امارت او امريکا ترمنځ د تړون په لاسليکيدو کې د قطر هيواد رول ډير مثبت او فعال دی.

د اشغال په دې سختو شرائطو کې قطر د يوه مسلمان هيواد په توګه د خپل اسلامي او اخلاقي مسؤليت له مخې د افغان مسلمان ولس ترڅنګ دريدلی، د اسلامي امارت سياسي دفتر ته يې په دوحه کې د فعاليت امکانات برابر کړي او د همدې سياسي دفتر له لارې يې له امريکا سره د سولې تړون لاسليکولو ته تولې لازمې آسانتياوې بربرې کړي.

اسلامي امارت او په مجموع کې افغان مسلمان ولس د قطر د دغه انساني او اخلاقي موقف له امله مننه کوي.

د قطر تر څنګ نورو هغو هيوادونو چې د دې تاريخي تړون د تر سره کولو په لاره کې يې سوله ييزې هڅې کړې اسلامي امارت تري مشکور او د هغوي انساني هڅو ته د قدر په سترګه ګوري.

پوښتنه:

د کابل او ننګرهار تر خونړيو بريدونو وروسته د کابل اداړې مشر خپلو خوا کونو ته د تهاجمي حالت غوره کولو قومنده ورکړه ، ايا دا کار له تړون سره د ټکاره مخالفت اعلان نه دی؟

ځواب: مونږ مخکې وويل چې کابل اداره صرف د يوه جګړه ييز هدف د پرمخ وړلو لپاره ايجاد شوې او د خپل دغه ماموريت د کامياب ټسودلو لپاره به خپلې نهايي هلې ځلې کوي.

خو که د افغانستان د قضيې د دوو مهمو اړخونو (اسلامي امارت او امريکا) ترمنځ د تړون په عملي کيدو کې متقابل جديت او فعالتوب موجود وي بيا د کابل اداري مخالفت او يا د هغې لخوا د خنډونو ايجادول کوم اغيز نشي لرلای.

پوښتنه :

په ننګرهار او کابل کې د جنازې پر مراسمو او ملکي روغتون خونړي بریدونه تر سره شول چې د ننګرهار برید مسؤلیت رسما داعش تروریستي ډلې پر غاړه واخیست ، اسلامي امارت دا دواړه بریدونه تقبیح او په هغه کې لاس لرل په کلکه رد کړل، مګر اشرف غني بیا هم د یادو بریدونو عامل اسلامي امارت ګڼي، ستاسي له نظره د اشرف غني د دې وقاحت لامل څه کیدای شي؟

ځواب:

د کابل اداره او د هغې بیواکه مشر له یوې نړیوالې سیاسي انزواء سره مخ دی، په داخل کې له خپلو سیاسي حریفانو سره لاس او ګریوان دی او له بهره د اسلامي امارت مجاهدینو تر ځپونکی ګوزارونو لاندې دی.

چې دې ناسم سیاسي او پوځي وضعیت نوموړی له یوه سخت روانې کشمکش سره مخ کړی دی .

خکه نو په اکثره مواردو کې داسې څرګندونې کوي چې هغه په سیاسي او منطقي لحاظ د توجیه وړ نه وي.

چې دغه نا معقول الزم یې هم د هماغو ناموجهو څرګندونو له جملې څخه دی.

حقیقت دا دی چې د اشرف غني اداره وه چې په جوزجان کې یې محاصره داعشیان د اسلامي امارت له مجاهدینو وژغورل، څلور ځله یې په ننګرهار او کونړ کې تسلیم شویو داعشیانو ته پناه ورکړه او اوس هم د کابل په شمول په ډیرو ځایونو کې د کابل اداره داعشي جګړه مارو ته د تروریستي فعالیتونو زمینه سازي کوي.

اسلامي امارت همدا اوس د کابل اداري ترځنګ له داعش سره هم په مقابله کې ده چې الحمد لله د هغوی د تواجد په سیمو کې یې داعش هم له داسې ماتې سره مخ کړی لکه د اشرف غني ګوداګي اداره .

مورچل:

له ناسو څخه ډیره مننه کوو چې له خپلو مصروفیتونو سره سره مو مونږ ته د مرکې لپاره وخت راکړ ، له ځښتن تعالی څخه درته په خپلو ټولو شرعي آرمانونو کې د موفقیت غوښتنه کوو.

انس (حقاني) مننه محترمو ، لتاسو نه هم مننه خدای تعالی مو موفق او بریالي لره.

تنظيم الأوقات

داسې نه وي...!!

ليکنه: موسى فرهاد

په دې کې شک نشته چې د ورځنيو چارو د ښه انسجام لپاره تقسيم الأوقات يا ټايم ټيبل ډېر مهم او ډېر اړين دی. د اسلام چې خومره احکام دي؛ ټول يې په يو نه، يو ډول موقوت پر انسانانو لازم ګرځول شوي. مطلب د تقسيم الأوقات له مخې وړاندي لازم شوي، «إِنَّ الصَّلاَةَ كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ كِتَاباً مَوْقُوتاً» لمونځونه پخپلو خاصو وختونو کې بايد ادا کړل شي، که لږ وروسته او يا وړاندي شي، نو فريضه ادا نشوه.

له دې نه ښکاري چې اسلام د وخت تنظيمولو ته خورا ارزښت ورکړی، هغه که په ديني امورو کې وي او که په نورو دنياوي مباحي امورو کې.

د أميرالمؤمنين عمر ابن خطاب رض دعاء ده چې، فرمايي: «اللهم انا نسئلک صلاح الساعات والبرکة فی الأوقات»★ يا الله! د ژوندانه د ساعتونو د اصلاح سوال درنه کوم، او هم يکي د برکت اميد درنه کوم.

نو خومره چې د وخت تنظيمول اړين او ارزښتناک کار دی؛ هومره يې پيژندنه هم ضروري ده، يعني د کوم کار لپاره چې څوک خپل ۲۴ ساعته ژوند ترتيبوي؛ نو مطلب يې دا نه دی چې که په مخکې تر هغه هم اړين کار ورته رامخ ته شي؛ نو دی به يې پريږدي او خپل تقسيم الأوقات به مخکې بيايي.

فرض لمونځ چې يو ډېر ضروري امر دی او پخپل وخت يې ادا کول حتمي دی، لکه په مخکنۍ آية کې چې يې يادونه وشوه؛ خو په ځينو استثنايی حالاتو کې يې ترتيب ساقطول هم ضروري وي. لکه د ښځينه مياشتنی ناروغی پرمهال. او داسې نور... ډېر مثالونه.

نو مطلب د تقسيم الأوقات په چوکاټ کې، پر وخت باندي د يو کار ترسره کول چې خومره ضروري وي؛ هغومره يې يو مهال پرېښودل هم د تقسيم الأوقات له مخې ضروري ګرځي. لکه د لمانځه په اړه د مستثنی حالاتو ذکر چې مو وکړ.

اوس راځو دې ته چې د دې موضوع د ليکلو اړتيا څه وه؟ لامل يې له تاسو محترمو لوستونکو سره شريکول غواړم.

د دې خبرې د لیکلو اصلي علت زما یو مسج و چې خو ورځې وراندې مې له یو ملګري سره د واټساپ له طریقه تبادله کړ.

کیسه داسې وه چې یو ملګري ته مې د یو ضروري کار لپاره (چې زما او د ده ترمنځ یوشان ضروري کار و، یعني تنها زما نه، بلکې د ده هم اړتیا وه چې باید رابطه راسره وکړي)؛ رساله ولیږله، سمدستي د واټساپ هغه نښه ښکاره شوه چې ګویا رساله یې وکتله، له خو ساعتونو تیریدو وروسته یې هم ځواب را نکړ، بیا مې ګمان دا سو چې ښایي له ذهنه یې خبره وتلې وي، بل ځل مې ورته مسج وکړ، ده هغه هم سمدستي په یو خو ثانیو کې ریسیو کړ، بیا یې هم ځواب رانکړ، وروسته مې صوتي پیغام ورته پریښود مال چې ځواب دې رانکړ، امید دی څه مشکل درته پیښ نه وي.

یاد ملګري هغه مسج هم فوراً واوریدل، خو بیا یې هم (الآن کماکان) ځواب رانکړ، وروسته مې ورته ټلیفون وکړ، سمدستي یې اوچت کړ، سلامالیک او جوړ پخیر مو سره وشو، مال، ولې د الله بنده، خو ځله مې درته پیغام پریښود، تا سره له دې چې واټساپ کې انلاین هم وي، پیغام یې دې وکتی؛ بیا یې دې هم ځواب رانکړ، څه مسئله، څه مشکل خو نه و؟ خدای دې خیر کړي.

ده په ځواب کې راته وویل، نه، نه، نوره هیڅ خبره نه وه، اصلاً ما ځان ته یو تقسیم الأوقات جوړ کړی. مال، هغه څنګه؟ وای بس ما ویل چې دا روژه مبارکه ده، په دې کې به له چا سره رابطه نه کوم، نو اوس چې هر ځوک مسج راته وکړي، فقط ګورم یې ځواب نه ورکوم. وای هغه ورځې هاغه پلاټي صاحب، (یو مشر سړی یې یاد کړ؛) هغه هم راته د شپې ناوخته مسج وکړ، وای زه پر تهجد لمانځه ولاړ وم. ټلیفون مې په مخکې راته اینبی و، سلام چې مې وګرځاوه، مسج مې وکتی، خدای سته جواب مې ورنکړ، دغسې مې پریښود. مال هسې نه دا تقسیم الأوقات مې را خراب کړي.

مال، ښه دا خو دې دهر جالب تنظیم الأوقات جوړ کړی،! مال د دې لپاره خو بیا پکار دا و چې تا دا ټلیفون، واټساپ او د رابطې ټول شبان بند کړي وای. نو به خلکو درسره رابطه نه کوله. او ته به هم خپل تهجد او نورو عباداتو ته فارغ وای، نو ته ټلیفون د یوې شیبې لپاره له ځان نه، نه لیرې کوې، ۲۴ساعته پرلیکه یې، د واټساپ ټول نشرات تعقیبوې، ښایی فیسبوک کې به هم انلاین یې.

خو فقط ملګرو او یا نورو هغه چا ته چې تا ورته د رابطې نمبر ورکړي وي، او کارمار دې ورسره بند وي او یا د دوی درسره وي؛ هغوی ته ځواب نه ورکوي.؟!

په خندا کې مې ورته کړه، مال داسې زبردست، ترتیب الأوقات خو ګمان نه کوم چې ارسطو او افلاطون یې هم جوړ کړای شي.

بیا مې ورته وویل: مال ته غوږ شه زه یو کیسه درته وکړم، وای سیې ده راته وایه!

مال، مفتی شفیع صاحب رح پخپل کتاب کې د یو ځان د تقسیم الأوقات او نظم و ضبط یوه واقعه لیکلې: وای چیرې یو ملک یا ملک مزاجه سړی و، ده اوریدلي وو چې باید د روزمره ژوند لپاره سړی خپل ټایم ټیبل ولري، نو د ځان لپاره یې داسې ترتیب جوړ کړی و، چې له

پلاني وخته تر پلاني وخته به دودی خورم، له پلاني تر پلاني تر پلاني وخته به ویده کیږم، له پلاني تر پلاني وخته به دفتر ته ځم، له پلاني ترپلاني وخته به دا او دا کار کوم....

په عین حال کې یې دا ژمنه هم له ځان سره کړې وه، چې په هرصورت او هر حالت کې به د خپل ترتیب کړای شوي، وخت پابندي کوم، مثلاً د خوب په وخت کې که څه هم خوب ته راځي خو زه به پروت یم او سترګې به مې پټې وي، او یا که دفتر کې مې کار نه وي، هم زه به ضرور ځم ترڅو مې نظم خراب نشي، او په ښه توګه مې عملي کړی وي.

بل وخت داسې پیښه شوه چې په کور کې پر بستر وغځیدی، خوب نه ورځي خو سترګې یې پټې کړي دي. ځو شیبې وروسته یې کوټې ته غل راغی، چې ویې کتل د سړي سترګې پټې دي، غله په سامان ټولولو پیل وکړ، خان صاحب چې د غله کړپ و کروپ هم اوري، ورو ورو د سترګو تر چولو ورته وګوري، خو بیا هم خان غلی کړي، څه نه وایی، غله چې خومره شیان په کاروو؛ له ځان سره یې یووړل.

سهار چې کله د خان صاحب د خوب هغه وخت پوره شو چې ده پخپل تقسیم الأوقات کې د را پاڅیدلو لپاره مقرر کړی و، نو را پورته شو او خپلو خادمانو ته یې آواز کړ، شور یې جوړ کړ چې تاسو چیرته وئ. د شپې غل راغی داغه او هاغه سامان یې ټول له ځان سره یووړ، نو خادمانو ورته وویل، چې خان صاحب ته ورباندې خبر شوي؟ ده وویل: هو زه ویښ وم.

هغوی ورته ویل، نو بیا دې ولې، غل نه را نیوی او یا دې مور ته ولې آواز نه را کاوه؟! خان صاحب ورته وویل: کمعقلانو تاسو په دې نه یاست خبر چې هغه مهال خو زما د خوب وخت و، تاسو زما په نقشه کې وګورئ، په دې وخت کې خو زه بل کار نه کوم. بیا مې تنظیم الأوقات خرابیږي.

نو دغه ملګري ته مې ویل چې ستا تقسیم الأوقات هم د هغه ملک صاحب تقسیم الأوقات را مالومیږي، ټلیفون دې ځلوروېشت ساعته له ځان سره خلاص ساتلی وي، د انټرنیټ پیکیج دې لګولی وي، هر وخت په واټساپ کې انلاین یې، د هر چا مسج په څو ثانیو کې آپنډ کوي، خو جواب نه ورکوي، ولې چې تا په روژه مبارکه کې د ځان لپاره یوه ظابطه جوړه کړې، چې چا ته به ځواب نه ورکوي، ځکه بیا دې تهجد، نوافل او أذکارو سره ټکر راځي. آیا دا اوس کوم معقولیت دی.؟

«لکلِّ مقالٍ مقامٌ، و لکلِّ مقامٍ مقالٌ»، نو مطلب هرکار چې کوو، لومړی یې باید په مقصد او طریقه باندې ځان پوه کړو، زده یې کړو... چې تقسیم الأوقات د څه مقصد لپاره وي، او ځنګه باید ترتیب شي، تقسیم الأوقات داسې نه وي. لکه ستا و د ملک صاحب.

خو ځرنګه چې د ده ښاغلي د تقسیم الأوقات له طرحې نه د ده ورتیا مالومیږي؛ بیا هم پرخپل موقف ټینګ ولاړ و، زما سره یې قناعت ونکړ، وای نه بس زما داسې کار دی، زه چې یوه خبره وکړم، بیا یې سرته رسوم. مال، منته.

پای...!

۱۳/۵/۲۰۲۰

شهید امیرالمؤمنین ته
د شتمنیو نسبت اساس نه لري!

لیکوال: م. جمیل باور

لکه چې داسلامي امارت په ورستۍ خپره شوې اعلامیه کې راغلي، چې د شهید امیرالمؤمنین ملااختر محمد منصور رحمه الله په اړه په ګاونډي هیواد پاکستان کې د جایدادونو دوسیه چې د هغه هیواد په یوې محکمې کې ګرځي راګرځي، هیڅ اساس او بنسټ نه لري؛ ځکه شهید امیرالمؤمنین دومره وخت او فرصت نه لاره چې له دومره ستر مسؤلیت سره سره یې په خپله دغسي کوم کاروبار سرته رسولای وای.

حقیقت دادی چې د شهید امیرالمؤمنین او د امارت نور مشران په مادي لحاظ له هرډول داغ او ګوتنیونې څخه پاک او صفا ول او دي او بیا په ځانګړي ډول د شهید امیر المؤمنین جهادي او سیاسي فراست او ځیرکتیا ټوله دنیا حیرانه کړې او پیاوړي عزم او استقامت یې تاریخ ساز او غلیم څپونکی و؛ نو ځکه یې د هغه له شهادت ورسته د یوه سازش له مخې جعلي دوسیې اوحربي جوړې کړې.

نړۍ دوه لسیزې وړاندې امریکا له پوره زر او زور سره پر افغانستان لومړی حمله وکړه او بیا یې دلته داسلامي امارت هغه اسلامي نظام چې د افغانستان پر مسلمانانو له ډېرې مودې تقریباً سوونه کاله وروسته راغلی ؤ، او دغه اسلامي نظام الله ج افغانانو د هغو وینو، زحمتونو، تکلیفونو او نورو مشکلاتو او ستونزو ګاللو په بدله کې ورکړی و، چې افغانانو د روسانو په خلاف په مقدس جهاد کې تېر کړل.

تر یرغل وروسته یې افغانان په ډېر ظلم او وحشت سره لومړی نیول او بیا به یې په لسګونو وحشی زندانو سربیره یوې لرې پرتې جزیرې" کیوبا" چې د امریکا مستعمره ده، وړل، هلته به نو بندي یې چاره له کور او ان له مطلق کوم افغان یا مسلمان سره له هر ډول اړیکو او روابطو څخه محروم وو.

کله چې د امریکا له وحشي جمهور رئیس بوش نه رسنیو پوښتنه وکړه چې تاسو د بشري حقونو مدعیان یاست، په داسې حال کې چې په ګوانتنامو کې له طالب بندیانو سره ډېر وحشیانه چلنډ کیږي، نو تاسو په دې اړه څه نظر لرئ؟

بوش په ډېر مغرورانه انداز ورته وویل چې موږ د کیوبا له زندانیانو سره ځکه دغه ډول وحشیانه سلوک کاوه، چې دغه بندیان د بشر په تعریف کې نه راځي.

که فکر وکړو چې د بشر په تعریف کې امریکایانو د اسلامي امارت مجاهدین نه شمارل خو د الله ج فیصلې دي، په خپل کامل نصرت یې دا دی نولس کاله وروسته د اسلامي امارت مجاهدینو ته دومره اعزاز ورکړ او دومره یې قوي کړل چې هماغه مغروره امریکا یې چمتو کړه چې دخبرو اومذاکراتو لار ونیسی او دسولې ټرون ومني!

کله چې امریکایي سیاستوالو د ټرون له لاسلیک کولو څخه وروسته د ټرون مادې یا متن ولوست، سخت حیران شول او هغه دعوی یې بنسټه ثابته شوه چې دوی به د خپلې هوښیارۍ لاپې وهلې، چې د سیاست په ډګر کې یې څوک نشي ماتولی.

اوس دوی او د دوی مرتزقه مزدوران غواړي چې په ټول افغان ملت او اسلامي هیوادونو کې مشهور علماءکرام او د اسلامي امارت مشران او نور دینداره مخور شخصیتونه بدنام او منفور کړي.

د اشغال له لومړۍ ورځې د دوی کونجاړه خورو رسنیو د اشغال د پایښت ته رنګارنګ پرتګونه ګنډل

دا څل راولګېدې او په شهید امیر المؤمنین رحمه الله پسې یې د دروغو اوازې خپرې کړې چې ګواکې په کراچۍ او نورو ښارونو کې یې تجارت او جایداد درلود چې اوس یې محکمې د ضبط او لیلام پربکړه وکړه.

د شهید امیرالمؤمنین غوره شخصیت تولې نړۍ وستایه او په اړه یې رسنیو تبصرې وکړې چې ډېر پوهه، مدبر او سیاسي مشر او زعیم ؤ، ددې له پاره، چې امریکا او مرزتقه یې خپل نړیوال حیثیت ته د ختو پوزه جوړه کړي نو ځکه د اسلامي امارت د مشر انو په حق کې دغه ډول درواغجن افواهات او پروپاګند خپروي.

کورونا
او د هند مظلوم مسلمانان

حسن مومند

دا مهال په نړۍ کې د کورونا ویروس ناروغۍ خپرېدو ډار او ویره ده ؛ ټولې نړۍ پام دکورونا ویروس ته دانساني ټولنې دخلاصون پرلور دی خکه چې دنړیوالو اداروله لورې دخپروشویو ارقامو له مخې په ټولې نړۍ کې ددې وبايې مرض نه تر دې دمه نېږدې ۳ سوه زره انسانانو خپل ژوند له لاسه ورکړیدی اوداسې ویل کېږي چې تر دې دمه يې نړۍ په علاج یا ورنه دخان ساتنې په واکسین موندلو نده توانېدلې.

دهند حالت هم ډېر بدتر دی؛ ددې هېواد دروغتیا دکمزورې اوناقصې پالیسۍ له امله دا مرض په هند کې په ډېرې تېزۍ خپور شو؛ پر خای ددې چې دهند دولت دصحت بخش ته ټینه توجو کړی او لازم احتیاطي او دفاعي تدابیر يې پرکار اچولي وای پرخپلو ناکامیو دپردې را اچولو او دمتعصبو او احمقو هندوانو دتوجو اړولو لپاره يې ددې ویروس خپرېدا پړه پرمسلمانانو واچوله او پدې هېواد کې دمسلمانانو پر ضد د تشدد یوه نوې لړۍ پیل شوه .

دمودي دولت چې دخپلې کومې ناکامۍ په اړه د ولسي غبرګون نه خان خلاصول غواړي نو د خان خلاصولو اسانه لار يې داده چې پر مسلمانانو ددې ناکامۍ پړه ورواچول شي ، بیا احمق اومتعصب هندوان دمسلمانانو پسې راپاخېږي نور دې ته نه ګوري چې آیا پدې ناکامۍ کې دمسلمانانو یو فیصد ونده هم شته او که نه ؟

دهټلر په مشرۍ کې چې نازیانو کوم ظلم او وحشت خپور کړی و نن هغې ته ورته ظلم او وحشت دمودي په مشرۍ کې دآر ایس ایس او نورو تروریستو ګوندونوسره تراو لرونکو اسلام دښمنو هندوانو دمسلمانانوپروړاندې په هند کې خپور کړیدی .

دکومه نه چې دمودي په نوم دګجرات داقصاب واک ته رسېدلی دی له هماغې ورځې راهیسې په هند کې دمسلمانانو ورځ بده ده ؛ نه دکوم مسلمان خان محفوظ دی ، نه مال او نه هم عزت .

داهر خه په داسې هېواد کې روان دي چې خان په نړۍ تر ټولو ستردیموکرات او سیکولرهېواد ګڼي

د آر ایس ایس بي جي پي او بجرنګ دل په خبر تروریست ګوندونه مسلمانانو ته د داسې د حشرات الارض په نظر ګوري چې تر هند خالي کول ډېر اړین بولي اوددې لپاره يې متې رانغښتې دي.

دوئ دمسلمانانوپر ضد د وحشت پیلولو لپاره دیوې کوچنۍ پلمې په انتظار وي ؛ کله چې ورته پلمه په لاس ورشي بیا د روغ ناروغ ، کوچني ،ستر ، سړي او میرمنې له امتیاز پرته دمسلمانانو قتل عام پیل کړي او هیڅوک ترې دپوښتنې نه وي خکه چې دا هر خه ددولت تر سرپرستۍ لاندې کوي .

دمسلمانانو جرم دا دی چې دوئ دهغو نیکونو اولاده ده چې هند يې فتح کړی او پرې يې کابو ۸سوه کلونه حاکمیت کړی ؛ هندوان چې دتاریخ په پانو کې دمسلمانانو دا ۸ سوه کلن دور وینې نو سینې يې له اور نه ډکې او دانتقام اخستلو فکر يې پر اعصابو

حاوي شي ،بيا ترې وحشي خناور جوړ وي چې طبعا کارونه هم دوحشت کوي او دمودي دولت ، عدليه او دهند رسنۍ ټول دهمدوئ تر شا ولاړ وي او وحشت يې تائيدوي.

دمتعصبوهندوانواو دولت لپاره نوې پلمه داوه چې دمارچ په منځنو ورځو کې په نوي ډيلي کې تبليغي اجتماع شوی وه چې له هغې وروسته دهند متعصبو سياسي مشرانو دمسلمانانو پر ضد دا تبليغات پيل کړل چې دپلان له مخې دمسلمانانو او خصوصاً دتبليغي جماعت له لارې په هند کې کورونا خپره کړای شويده .

بس دسياسي مشرانو ددې نا مسئولانه څرګندونو سره سم په دې هېواد کې په شوشل ميډيا ، ورځپاڼو،جرائدو اوتلويزيونو کې دمسلمانانو پر ضد نه تم کېدونکي تبليغات پيل شول ؛ کورونا ويروس په (اسلامي وايرس ؛ جهادي وايرس ، تبليغي وايرس ، مدرسه وايرس) په نومونو ونومول شو او ددولت په اشارو ددولت نه په ډېر شدت وغوښتل شول چې دمسلمانانوجوماتونه ، مدرسې اودينې مرکزونه دې بند کړای شي او دمسلمانانو په ګرځېدو اوټولو فعاليتونو دې بنديز ولګول شي .

بيا دا‌پريل په ۱۹ مې نېټې دهند دولت دکورنيو چارو وزارت اعلان وکړ چې په هند کې په کورونا داخته شويو مريضانو شمېر ۱۵۰۰ ته رسېږي چې د ۴۰۰ نه دزياتو مريضانو تراو دتبليغي جماعت سره دی نو بايد دتبليغي جماعت مشر مولوی سعد ونيول شي او دقتل دوسيه ورته جوړه شي .

ددې اعلان نه ۴ ورځې پس يانې دا‌پريل په ۲۳مې نېټې دولت اعلان وکړ چې هند کې ۳۳۰۰۰زره تنان پدې مرض اخته دي چې ۱۰۰۰ تنانو پکې خپل ژوند له لاسه ورکړ .

ددې اعلان دخپرېدلونه پس په ټول هند کې دسوشل ميډيا له لارې دمسلمانانو پر ضد دنفرت خپرولو لپاره د تبليغاتو سېلاب پيل شو ؛ تردې چې دېرو داغوښتنه هم کوله چې تبليغي جماعت دې تروريست جماعت وګڼل شي او ارکان دې يې دمرګ په سزا محکوم شي .

دمتعصبوهندوانو دا ددولت نه غوښتنه وه خو ددولت پرېکړې ته يې ځان اړ ونه ګڼلوبلکې پخپله يې عملاً دمسلمانانوپرضد هر هغه څه وکړل چې څه يې زړه غوښتل ؛ هېواد په مختلفو برخو کې يې دمسلمانانو په وژلو، وهلو دکورونواو دوکانونو سوزولو اوبندولوپيل وکړ؛ دمتيازو سکلو ته يې اړ ايستل او دولت له کوره بيرون هرمسلمان په زور دقرنطين مرکزونوپه نوم جوړو شويو زندانونو ته بوتلل نو مجبوراً ټول مسلمانان په کورونو کې محصور شول چې لا هم محصور او دسختو اقتصادي اوصحي ستونزو سره مخ دي. دمسلمانانو پر ضد دنفرت خپرولو تحريک دومره زور اخستی دی چې دحاکم ګوند بی جی پی غړی او د اترپرديش ايالت نه پارلمان ته منتخب شوی رکن سريش تيواری اعلان وکړ چې په دېرې تېزۍ په هندي رسنيو کې خپور شو هغه ويلي چې دمسلمانانو نه سبزي مه اخلئ ! ځکه چې دوئ پرې توکانې توکي چې دا په مور کې دکورونا دخپرېدا سبب ګڼي.

په جوماتونو کې دلونخونو پر اداکولو بنديز دی او اوس چې دروژې مبارکه مياشت ده او مسلمانان په اذان روژه نيسي او په اذان يې ماتوي د هند په زياتره سيمو کې په اذان کولو هم بنديز دی بلکې دجوماتونو دمنارو نه دلوډسپيکرونو دراکوزولو لړی هم روانه ده او دلوډسپيکر راکوزولو پر مهال پوليس مسلمانانو ته وايي چې بيا اذانونه ونکړئ ځکه چې ستاسو

له امله په هېواد کې کورونا خپره شويده .

ددولت له لورې جوړشوي دقرنطين مرکزونه هم دمسلمانانو جدا او هندوانو جدا دي ؛ دهندوانو لپاره جوړ شوي مرکزونه ربښتيا هم قرنطين مرکزونه دي خودمسلمانانولپاره جوړ شوي مرکزونه اصل کې قيدخانې دي؛ چې يوځل ورته مسلمانان راوړل شي بيا يې ترې ويستل دډاکتر داجازې او دجوړېدو پورې اړه نه لري بلکې دپوليسو په اختيار کې وي ځکه چې نه دې مرکزونو کې ډاکتران وي او نه هم صحي وسايل.

په نوي ډيلي کې مسلمانان دې مرکزونو ته راغلل ؛په چغو چغو يې ژړل ويل يې : د قرنطين موده ۱۴ ورځې ده ،زمور په خلکو کې دچا هم له ۲۸ ورځو کمې ندې تېرې شوې خو تر اوسه يې دولت نه

راپرېږدي او مور ته وايې چې ولاړ شئ ګيني تاسو هم دې مرکزونو ته ورداخلوو.

د سوشل ميډيا له لارې داسې خبرونه خپاره شويدي چې ددې مسلمانانو يوه لويه شمېره د دوا او ډاکتر دنه شتون له امله وفات شويدي نو مجبوراً په هند کې دلګکيو کميسون دهند دصحت وزير ته خط وليکلو اوپکې يې ددې مسلمانانو دسرتوشت په هکله ترې وپوښتل خو دصحت وزير تر اوسه ددوئ په هکله هيڅ معلومات ندي ورکړي .

ټولې نړۍ ته معلومه ده چې هند کې ددولت په سرپرستۍ کې ډېر ستر تروريزم روان دی؛ دټبرو ۷ لسيزو راهيسې دزور له لارې دکشميريانو دغلام ګرځولو هڅې روانې دي ؛ يو کورهم داسې ندی پاتې چې دوحشت ښکار شوی نه وي اوترې دشهيد جنازه نه وي پورته شوی ؛ تر اوسه دلته يونيم لک مسلمانان شهيدان شوي ؛ دنورې نړۍ خلک دکرونا ويروس دخپرېدو نه پس په کورونو کې محصور شول خو دکشمير مظلوم مسلمانان دټبرو کابو لسو مياشتو راهيسې په خپلو کورونو کې محصور اودخوراکي او اړتيا ور نورو اشياوو دسخت قلت سره مخامخ دي ؛ ددې ترڅنګ په قبضه شوي کشمير کې کورونا خپره شويده خو صحي هيڅ اسانتياوې نشته چې دلته د بشري تاورين درامنځته کېدو خطر مخ په زياتېدو دی ؛ خو نړۍ پدې هر څه سترګې پټې کړيدی .

دملګروملتونو اداره چې دټولې نړۍ دانسانانو دحقوقو نه دفاع او ساتنه يې له مهمو اهدافوڅخه ګڼل کېږي ولې په هند اوخصوصاً کشمير کې دکوچنيانو ژړاګانې دمېرمنو ويرِ اودبوډاګانو آه او فرياد نه اوري ؟ ولې دا بند ښارونه ؛ خالي سرکونه ؛ مفلوج ژوند اوپرمسلمانانو دوحشي هندي فوځ ګولې ورول او دکوتکونو ګوزارون نه ښکاري ؟

اودمتعصبو هندوانو له لورې دکورونا دخپراوي په خبر په ډول ډول پلمو دمسلمانانو دنسل ختمولو اقدامات ولې نه وينې ؟

سره له دې چې په هند کې دتابعيت نه دمسلمانانو دبې برخې کولو لپاره دنويو قوانينودنفاذ او په قبضه شوي کشمېر کې دهند دفوځ دوحشت دنوې لړۍ په هکله ټوله اسلامي نړۍ چوپه خوله وه اودترکې ، مالیزيا اوپاکستان پرته په عربو او عجمو کې هيڅا هم ددې ظلمونو پرضد اواز نه و پورته کړی خو اوس چې په نړۍ کورونا خپره او له امله يې په ټولې نړۍ کې کابو ۳سوه زره انسانانو خپل ژوند له لاسه ورکړی په هند کې دمتعصبو هندوانو له لورې پرمسلمانانو ددې مرض پره وراچول اوبر مسلمانانو دظلم او وحشت نوې لړۍ او دهندي دولت له لورې پرمسلمانانو ددې مرض دخپراوي مسئوليت ور

اچول عرب غصه کړيدي او په سوشل ميډيا د افرادو ، تنظيمونو او ټولنو له لورې دمتعصبو هندواونو او متعصب دولت ستخته غندنه شويده اوله نېکه مرغه چې دکويت او دعربو متحده اماراتو چې همدا خبره راپورته کړه نو ورسره اسلامي کانفرانس هم يو څه دغفلت له خوبه رابيدار او دا خبره يې ددې وړ وګڼله چې پوښتنه يې وشي .

داپريل په ۱۸مې نېټې اسلامي کانفرانس يوه اعلاميه خپره کړه چې پکې دهند نه غوښتل شوي و چې داسلام او مسلمانانو سره دنفرت خپرولو پر ضد بايد هند جدي ګامونه پورته کړي .

دقطر پوهنتون کې دخليجي مطالعاتو په بخش کې دسياست استاذ دوکتورفرحان وايي : دمتعصبو هندوانو له لورې فاشستو سخت دريځو څرګندونو نړۍ حيرانه کړه اوډېر هغه وګړي چې دهند په اړه يې فکر مثبت و اوس يې فکرونه بدل او هندوانو ته دنفرت په نظر ګوري.

دعربو دمتحده ايالاتو دشاهي کورنۍ سره تړاو لرونکې شهزادګۍ (هند الفصيحي) ويلي دي چې متعصب اونسل پرست هندوان به دجريمه کولو نه پس دهېواد نه شړل کېږي .

Gulf News ورځپاڼې کې د دهند الفصيحي په خپرې شوې يوې تازه ليکنې کې راغلي دي نړۍ بل هټلر ته اړتيا نه لري؛ نړۍ دمارټن لوتر کنګ ، ګاندی او نيلسن منډيلا په څېر خلک غواړي؛ دخپلو خلکو وژل تا اتل نه ګرځوي بلکې له تا ديکتاتور، قاتل او جلاد جوړوي ؛ هند بايد اسلام ضد تبليغات او نفرت خپرول پرېږدي.

د اسلامي نړۍ ترځنګ نا مسلمانه نړۍ کې هم اوس هند دلويې رسوايۍ سره مخامخ شوی اودظلمونو پر ضد يې ورو ورو غږ پورته کېږي. په ډومبې خل په امريکا کې دمذهبي ازادۍ بين المللي کميسيون د۲۰۲۰م کال په خپل کلني راپور کې هند دمذهبي اقليتونو لپاره په خطرناکو هغو هېوادونو کې ورشامل کړی چې پکې مذهبي ازادي او انساني حقوق تر پښو لاندې کېږي؛ ياد کميسون دامريکا له باندنيو چارو وزارت نه غوښتي دي چې په داسې کړنو کې ککړ هندي مشران دې په تور لست کې داخل او وربانديې دې بنديزونه ولګوي . خو داچې مادي منافع ټرمپ ته له هرڅه وړانديې دي او دهند سره په ښو روابطو کې امريکا خپل منافع ويني نو داسې نه ښکاري چې ټرمپ به دهند خلاف کوم کوچنی اقدام وکړي.

اوس چې دهند ظلمونه اوج ته رسېدلي دي بايد نړۍ دچوپتيا روژه ماته کړي کې دامريکا دياد کميسون په خبر په نورې نړۍ کې هم دهند پر ضد اواز پورته شي اوبياپه ټوله اسلامي نړۍ يا يواځې عرب هېوادونه هند باندې دبنديزونو لګولو ګوانښ وکړي په هماغه ورځ به په هند کې نه يواځې دمسلمانانو بلکې دټولو لګکيو پر ضد دروانو ظلمونو لړۍ ټم وي.

که ربښتيا ووايو دګوانښ کولو اړتيا هم نشته خکه چې دهند ۸ نيم مليونه وګړي په خليجي هېوادونو کې په کارونو او مزدوريو بوخت دي چې دوئ هر کال خپل هېواد ته ۵۵ بليونه ډالر لېږي ؛ هند دا ټول خلک په خپل هېواد کې نه شي زغملی ؛نه ورته کار ورکولی شي او نه هم ددې زياتو ډالرونه ځان پې برخې کوي .

نوکه خليجي هېوادونو ددې هندوانو دشړلو اراده ښکاره کړه ټول هند به په توبو وي. دهند دولت ؛ فوځ او عام هندوان زيات شريران دي خوچې څومره شريران دي له هغې څو چنده زيات بزدلان هم دي؛ يوه ګوت څنډنه ورته بسيا کوي خو چې څوک پيداشي .

☆ ☆ ☆

د لويديځ توره بلا او بدرنګه خپسکه

ليکوال: عصمت الله بشام

په ۲۰۰۱ م کې د لوديځ د تورو بلاګانو تور لښکر مې د ګران هيواد په لمرينه غېږ کې د خپل تور يرغل د تيارو تور څادر وغوړاوه.

د يرغل توره بلا په ډېر تلوار زمونږ د هيواد په کلي، ښار، سمه او غر، ښدښا، لوړه او زوره باندې وګرځېده او په ډېر وحشت يې زمونږ د ګلشن پر سينه د تکنالوژۍ درنې منګولې ولګولې او د دين د پتنګانو په داړلو يې پيل وکړ.

د هيواد د کلو، ښارونو، غرونو، لوړو، زورو او بيديا وو بې شمېره مقدس پتنګان يې د يرغل او وحشت په زهر جنو داړو باندې وداړل او يو شمېر مقدس پتنګان يې له خپل کور کلي او ښار څخه مسنون عمل، نبوي هجرت ته اړ کړل.

ځيني د دين فتنګان او د ګلشن بوراګان يې د کندهار نګرام او ګونتانامو د کرغيړنو زندانو په تورو تيارو کې د ظلم او وحشت په ځنځيرو وترل

د لويديځ له استعمار ګرې تورې بلا سره د هيواد يو شمير بد رنګو خپسکو هم لاس يو کړ.

او زمونږ د زړه په چم کې يې د سپېځلو لمرمخو پر مخ د خپل ظلم وحشت بربريت سايه وغوړله.

لويديځې بلا او بدرنګې خپسکې زمونږ د ژوند پر اسمان د ازادۍ او ډيموکراسۍ تر عنوان لاندې د عياشې بربندې او بې دينې وريځ خپره کړه .

او رمونږ له سره يې د شينکي اسمان د شريعت ځلانده ستوری او د ژوند د تيارو د رهنمايې زرين لمر پټا کړ.

د مکر او فريب په پلو کې راوړې د نفاق زهرجن تخم يې د وګړو د زړونو په پټيو کې و شيدې او د ډالرو په باران يې د شيندلې زهرجن تخم تنده ماتوله.

د ګران هيواد د لر او بر خمکې او فضا واک يې په خپلو درنو منګولو کې واخست او په ټولنه کې يې د خپلې ناروا تقاضا منونکي د غربې او ډيموکراسۍ په ويروس ککړ څو غرب پاله اشخاص حاکمان او واک ته ورسول.

د دوي په متو يې د الهي قانون روښانه ډيوه مړه او پر ځای يې د عرب په لاس د تيتې تيارې جوړ شوی قانون پلی او خپور کړ.

د استعمار تورې بلا د بـدرنګي خپسـکې پـه ملتیـا د ټولنې د نـوي نسـل د فکـر پـه ټـال کـې د اسـلامي مفاهیمو او عقایدو پر ځای د غرب فکري اخلاقي او اجتماعي ارزښتونه ځنګول.

د ټلویزون پر پرده یې د فحشا عیاشي نجس سریالونه خپرول.

د ځینو مؤسیسو په مټ یې په ټولنه کې د اسلامي ثقافت او تعامل پـر ځـای د غـربي ثقافـت او تعامـل خپرول شروع کړل.

د دین له پتنګانو سره یې د ټولنې د نفرت او کرکې په خاطر پـه مسـجدونو مکتبونـو روغتونـو او د ولسي ـ خلکو په منځ کې یې په بارودي دارو دارل پیل کړل.

پر خپلو میډیاګانو یې د الهی امر جهاد په زرین تار پیلو ملغلرو ته د بلواکی په سپنسي پیلـو ملغلـرو نـوم ورکړ.

د یاقوتو د غمیو نبوي سنت هجرت ته یې د غلامی پر ګربوان د تورو غمیو نوم ورکړ.

استعمارګره بلا له همدې ټولو وحشتنو ظلمونو او هځو سره سره د خپلو ناروا هیلو هدف ته ونه رسیده.

او یو ځل بیا د جاهدو د شنکي اسمان ځلانده ستوري د فدا کاریو پر میدان د د الهي نصرت او لوړ عـزم په مټو د توحید توره او د استشهاد غشي په لاس وځلېدل.

پر استعمار ګره بلا او بدرنګي خپسکې یې د توحید د تورې او د استشهاد د غشو مرګوني بریدونه پیل کړل.

د جاهدو د شنکي اسمان ځلانده ستورو په ځلیدا سره، د هیواد پـه زړه کـې یـو ځـل بیـا د تانـدو هیلـو او خوښیو پسرلی خپور شو.

د هیواد د خزان شوي ګلشن ټول مړاوي ګلانو ته یو ځـل بیـا د دیـن پتنګـانو او د جهـاد د اسـمان ځلانـد ستورو د فتحو د خوښیو په شبنم د اشغال په غبار ککړ مخونه ور پرېمنځل.

د سور غر، هندوکش او سپین غر په لمنو کې د تاندو هیلو، تاندو غوټیو، په نرمه مسکا له سورکو شـوندو معطر ګلان وغوړول،

د زړه پر فضاء مو د مینې معطره وړمه وچلیده،

د اشغال په وچکالی سپېرې دښتې پر مخ وریښمین زرغون شال وغوړاوه.

د تور غره په لمنه کې شپونکي جانان د ترنم مسته شپیلی ووهله.

د مینې په ګلشن کې بلبلانو د مینې نغمې شروع کړې.

د ترنک هلمند او امو سیندونو د خوښی مستې څپې ووهلې.

ان شاءالله تعالي په لنډ وخت کې به د غزا ځلانده سـتوري د خپـرې تروړمـی ملا پـه الهـي نصرـت او د سپېځلې فداکاری د ځلا په مټ ورماته کړي.

له مودو څخه وبده د ازادی لیلا به یو ځل بیا له درانه خونه راوښه او په نرمه مسـکا بـه د هیـواد والـو د زړه په ګلشن کې د سکون امن او د خوښی تاندې غوټی وغوړوي.

د مورچل دارالافتاء

آیا میرمني په اعتکاف کې دکور ځیني کارونه کولای شي!

الاستفتاء: محترم مفتي صاحب !یوه میرمن کولای شي چې په اعتکاف کې دکور کار وکړي مثلا : خپله خونه جاروکړي، یا دروژه ماتي لپاره سالن - کتغ - تیارکړي، یادپېشلمي لپاره سالن تود کړي یانور داسي کارونه وکړي . بینوا توجروا.

الجواب حامدا ومصلیا وبعد :هغه خونه چې میرمنې داعتکاف لپاره ځانګړي کړي ده هغه ددې لپاره دمسجدحکم لري اومعتکف په مسجدکې دننه هرمشروع کار کولای شي مثلا دمسجدجاروکول ، دلاسونو وینځل ،دکالووینځل اوداسي نور نومیرمني هم داعتکاف په ځای کې داکارونه کولای شي.

مګر د اعتکاف له ځایه باهر داکارونه نشي کولای اوکه یې کوم داسي کار وکړ نومسنون اعتکاف یې پای ته رسیږي . البته پاته اعتکاف یې نفلي ګڼل کیږي.

لما في الفقه الحنفي ۱\۴۳۲ فاذا خرج بغير حاجة من هذه الحاجات فسد اعتكافه المنذور وانتهى اعتكافه المستحب والمسنون. وفي مراقى الفلاح و الطحطاوي وانتهى بالخروج غيره اى غير الواجب وهو النفل الخ وفى الطحطاوى ولاتخرج منه اذا اعتكفت فلوخرجت لغير عذر يفسد واجبه وينتهي نفله الخ ... كتبه :مفتي ابوحامدعفى عنه ۱۲\۱۴۴۱\رمضان.

په روژه ماتې انفرادي دعاء اوکه اجتماعي ؟

الاستفتاء : محترم مفتي صاحب ! اوریدلي مودي چې دروژه ماتي په مهال دعاء قبلیږي نوپوښتنه داده :چې اجتماعي دعاء ښه ده اوکه انفرادي دعا؟ بینواتوجروا.

الجواب حامدا ومصلیا وبعد: د روژه ماتي په مهال دعاء قبلیږي، بهتر دادی چې هر روژه دار دروژه ماتي په مهال انفرادي دعاء وکړي، خوکه اجتماعي دعاء وکړي نوهم پروا نه لري ،خواجتماعي دعاء دي په خلقوباندي لازمه نه ګرزوي، په احادیثو کې همداراز دفقهي په کتابونوکې چې ددعاء کوم الفاظ راغلي هغه هم ټول دانفرادي دعاء دي.

عبد الله بن عمرو بن العاص، يقول: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «إن للصائم عند فطره لدعوةً ما ترد». قال ابن أبي مليكة: سمعت عبد الله بن عمرو، يقول: إذا أفطر: اللهم إني أسألك برحمتك التي وسعت كل شيء أن تغفر لي."

وعن النبي صلى الله عليه وسلم انه قال ... :بسم الله والحمدلله اللهم لك صمت،وعلى رزقك افطرت،وعليك توكلت سبحانك وبحمدك تقبل منّي إنّك أنت السميع العليم . الدارقطني رسالة فضائل الرمضان ص\۲۱۰

وفي رواية البيقهي: الحَمدُلله الذي اَعَانَني فَصُمتُ وَرَزَقَني فَاَفطَرتُ . (بيهقي شعب الايمان ۳\۴۰۸)

كتبه: مفتي ابوحامدعفى عنه

■ لیکوال: محمود محمد الخزندار
■ ژباړه: احمد حمزه

که جهاد او صدقه نه وي نو جنت ته تگ هم نشته!

د مسلمان په عمر کې که یوه ورځ هم زیاتیږي، دهغه طاعت (نیک اعمال) ورسره اضافه کیږي، دښمن ته یې صدمه رسیږي او کافر وربانديږي له غوسې سوځي. صحابه رضي الله عنهم هغو دوو کسانو ته ډیر حیران شول چې هغوی دواړو ګډ اسلام راوړی و، یوه صحابي له بل څخه ډیر کوښښ کاوه ، بیا خواري کښ شهید شو او بل صحابي یو کال وروسته مړ شو، نو طلحه رضي الله عنه خوب ولید چې دویم کس له خپل کوششي- ملګري مخکې جنت ته تللی، نو پیغمبر صلی الله علیه وسلم وفرمایل : تاسې له کوم یو څخه تعجب کوي؟ هغوی وویل: اې د الله رسوله! دا یو له بل څخه ډیره خواري ویستله او بیا شهید شو او بل له هغه څخه مخکې جنت ته لاړ نو پیغمبر صلی الله علیه وسلم وفرمایل: "آیا هغه له ده څخه وروسته یو کال پورې ژوندی نه و؟ هغوی وویل : هو! هغه وویل : آیا په هغه د رمضان میاشت راغلې وه، روژه یې نیولې وه، او په کال کې یې دومره دومره سجدې او لمونځونه کړي و؟ هغوی وویل : هو، بیا هغه وفرمایل : نو د دوی ترمنځ د اسمان او ځمکې هومره لرې والی دی.

یقینا هغه سړی چې په ریښتیا سره د شهادت لپاره مستعد وي، هغه خپل ځان هر راتلونکي خطر ته وراندې کوي او له فرار (تېښتې) په ځای صبر غوره کوي اګر که دا ورته په مرګ تمامیږي.

امام بخاري رحمه الله روایت راوړي چې له نافع رضي الله عنه پوښتنه وشوه، په کوم څه باندې صحابه و له پیغمبر صلی الله علیه وسلم سره بیعت کړی و؟ آیا بیعت علی الموت مطلب په مرګ باندې و؟ هغه وویل : نه! بلکې په صبر یې ورسره بیعت کړی و). په همدې حدیث پسې جوخت امام بخاري رحمه الله د دواړو روایتونو ترمنځ یو باریک ربط ټړي، هغه وایي پدې خبره کې کوم تناقض نشته چې بیعت په مرګ سره وي یا دې له تېښتې په صبر سره، ځکه چې له بیعت کولو مراد داده چې که دوی مړه کیږي هم، دوی به نه تېښتي او صبر به کوي. همدا خبره نافع داسې راوړي چې: (په صبر سره دوی بیعت کړی و، یعنې په ثبات او نه تبدیلو سره، برابره خبره ده که مړه کېدل او کنه) او دا خبره ددې تائید کوي چې کله ابوامامه رضي الله عنه درې وارې له

پېغمبر صلی الله علیه وسلم غوښتنه وکړه چې ده ته د شهادت دعا وکړي خو هغه صلی الله علیه وسلم یوازې دومره وفرمایل: «**اللّهُمّ سلّمهُمْ وغنّمْهُمْ**» یا الله هغوی وساتې او غنیمت یې په برخه کړې.

نو اصل خبره داده چې د یو مسلمان ژوند سره د مسلمانانو ډله زیاتیږي ، قوت زیاتیږي، کفار یې غوسه کیږي، خفه کیږي وربانديږي، خو سره له دې باید ثابت قدمه اووسي او صبر ته مستعد وي، که هرڅومره سخت مصیبت وربانديږي راځي.

د همدې تربیې له مخې که د شهادت لپاره تیاری وي نو انسان په حق ویلو ګویا کوي، ځنګه چې پېغمبر صلی الله وسلم فرمایي: «**أفضل الجهاد كلمة عدل عند سلطان جائر**» ترټولو غوره جهاد د ظالم پاچا په مخکې دعدل (حق) خبره کول دي. امام غزالي رح پدې معنا داسې تبصره کوي: کله چې په دین کې کلک حلک پدې پوه شول چې د ظالم پاچا په وړاندې حقه خبره کول بهترین جهاد دی، که ووژل شي شهید دی (ځنګه چې په روایتونو کې راځي) نو حق ته ور وړاندې شول او د وژل کېدلو ، شکنجه کېدلو ته یې غم یې ونه کړ، الله تعالی لپاره صابرین او له هغه ځخه اجر غوښتونکي وګرځېدل).

که دغه احساس نه وي نو بیا امت د (اوبو) د څڅر په څپر دی او ددې د څڅر جوړېدلو نتیجه به دا وي چې الله تعالی به د دښمن له زړونو ستاسې وېره وباسي او ستاسې په زړونو کې به وهن راشي، کله چې له پېغمبر صلی الله علیه وسلم د وهن په اړه پوښتنه وشوه، هغه وفرمایل: «**حب الدنيا وكراهية الموت**» د دنیا محبت او د مرګ ځخه وېره . همدا وهن دی چې نن یې امت داسې حالت ته وړی چې ذلت مني او په خپل سپکاوي راضي کیږي.

اوس که ځوک په الله تعالی ږښتینی توکل نه لري نو د شهادت مرتبه به ځنګه حاصلوي. امام بخاري رحمه الله د طاعون په مرض صبر کوونکي ته د اجر ډاره کې روایت راوړي: «... **فليس من عبدٍ يقع الطاعون فيمكث في بلده صابراً يعلم أنه لن يصيبه إلا ما كتبه الله له إلا كان له مثل أجر الشهيد**». هیڅ یوه بنده نه وي چې هغه ته طاعون (وبا) راغلې وي او هغه په خپل ښار کې پاتې شي، او پدې پوهیږي چې هغه ته به ماسیوا له هغه څه چې الله تعالی ورته لیکلی وي نور هیڅ (ضرر) ونه رسیږي، مګر هغه ته به الله تعالی د شهید (هومره) اجر ورکوي.

ابن حجر رحمه الله پدې تبصره لیکلي · صابراً معنا داده چې تسګ او خفه نه وي، الله تعالی ته ځان وسپاري او د هغه په فیصله خوښ وي؛ نو ځوک چې په طاعون (وبا) مړ کیږي، همدا ورته د شهادت اجر حاصلولو لپاره قید دی، او دا قول چې الله تعالی چې څه ورته لیکلي هغه به ورته رسیږي ، دا بل قید دی.

دلته مهمه خبره د شهادت لپاره د تیاري ښودلو لپاره اخلاص او د ټولو شاتبو ځخه د نیت صفاتي ده، په غزوه خیبر کې د هغه سړي حال ته وګوره، ته فکر وکړه چې هغه له مشرکانو سره جګړه کوله (د هغوی یې چې ځوک لیدل، نه یې پرېښودل او په هغې پسې به کېده او په خپله توره واهه بیا چا وویل. **ما أجرأ منا اليوم أحد كما أجزأ فلان**. په مور کې نن ورځ چا داسې توره ونه کړه لکه پلانکي چې وکړه، نو پېغمبر صلی الله علیه وسلم

وفرمايل : (هغه به په اور کې وي). ځکه چې د هغه نفاق ورته معلوم و.بيا يـو صـحابي پـه هغـه پسـې و، چـې ګوري هغه زخمي شوی، او په زخم يې صبر ونه کړ؛ خپل ځان يې په خپله ووژه.

له همدې امله په حديث کې راغي : «**إن أكثر شهداء أمتي أصحاب الفرش، ورب قتيل بين الصفين اللهُ أعلم بنيته**» په يقين سره زمـا د امـت اکـثره شـهيدان بـه د بسـترو ملګـري وي، او کلـه بـه د دوو صـفونو تـرمنځ جنګېدونکی وي، الله تعالی به يې په نيت خبر وي. (مسند أحمد)

شايد يو سړی په خپله بستره کې ومړي او د شهداو له اجر څخه محروم نه شي، ځکه الله تعالی بـه دهغـه رښتينولي وينې. کله ناکله به يو سړی په وينو لت پت د جګړې له ډګره وړل کيږي خو د الله تعالی په نـزد بـه لـه تاوان کوونکو څخه وي، ځکه چې دهغه په نيت کې به عجب، فخر، قوم پرستي او ريا موجوده وي.

همدا راز نور حديثونه روايت شوي: يوحديث کې چې مسلم روايت کړی: فرمايي: چا چې پـه رښـتيا سره شهادت وغوښت، الله تعالی به يې (اجر) ورکړي اګر که ورته ونه رسېږي. همدا حديث د حاکم روايت کې پدې الفاظو راغلی: (**من سأل الله الشهادة بصدق، بلغه الله منازل الشهداء وإن مات على فراشه**). که چا په رښـتيا سره د الله تعالی په لاره کې شهادت وغوښته ، الله تعالی به ورته د شهداو منازل ورکړي اګر که خپله بسـتره کـې مـړ شي.

نو ته شايد له هغو سره شي چې **الله تعالی وربانديي پيرزوينه (انعام) کړی يعني پيغمبران، رښـتيا ويـونکي، شهيدان او صالحان . د هغو ملګرتيا څومره ښه ده چې چاته نصيب شي.**

ددې فصل لنديز او ارزښتناکي:

- **د شهادت لپاره د تيارې په موخه:**
  - رښتينولي او صداقت پکار ده.
  - د عمل اصلاح پکاره ده .
  - د مال خرچ ، ايثار او قرباني پکار ده.
  - د اسلام په خدمت کې اخري حد ته کوشش او خواري پکار ده.
- په مرګ سره بيعت کول څه معنا؟!
- مرګ خپله مقصود نه دی او د عمر زياتوالي معنا طاعت (د نيکيو زياتوالی) او کافر له غوسې سوځول.
- په حق کې جرأت درلودل له دنيا څخه لرېوالی او له مرګ څخه نه وېرېدل.
- په الله تعالی بروسه او صدق سره توکل کول.
- په کار کې اخلاص ، د نيت پاکوالی او په رښتيا شهادت غوښتل؛ شهيد کېـدلو او يـا د شـهادت اجـر حاصلولو ته لار جوړوي.

د اسلام غزوات او سرایا

تبوک غزا



❖ په تیرپسې

❖ ابو ظهیر

ضرار مسجد:

دامسجدمنافقینو ددې لپاره جوړ کړی و،هلته به کیناستل اودرسول الله صلی الله علیه وسلم پخلاف به یې مشورې کولې،کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم تبوک ته روانیده، هغه مهال منافقین راغلل او خواست یې وکړ چې:موږ دناروغانو او معذورانو لپاره یومسجد جوړ کړی دی، که ته راسره لاړشې ، یوځل پکې لمونځ وکړې، څو مقبول اومتبرک شي

رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: اوس تبوک ته روان یم،چې کله راشم بیا به ګورم

کله چې دتبوک نه راستون شو نو دوه صحابه ووته یې حکم وکړ چې لاړشئ اوهغه مسجد وسیزئ،لاندې ایتونه په همدې باره کې نازل شوي دي:

وَالَّذِينَ اتَّخَذُوا مَسْجِدًا ضِرَارًا وَكُفْرًا وَتَفْرِيقًا بَيْنَ الْمُؤْمِنِينَ وَإِرْصَادًا لِمَنْ حَارَبَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ مِن قَبْلُ وَلَيَحْلِفُنَّ إِنْ أَرَدْنَا إِلَّا الْحُسْنَىٰ وَاللَّهُ يَشْهَدُ إِنَّهُمْ لَكَاذِبُونَ . لَا تَقُمْ فِيهِ أَبَدًا لَّمَسْجِدٌ أُسِّسَ عَلَى التَّقْوَىٰ مِنْ أَوَّلِ يَوْمٍ أَحَقُّ أَن تَقُومَ فِيهِ فِيهِ رِجَالٌ يُحِبُّونَ أَن يَتَطَهَّرُوا وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُطَّهِّرِينَ (۱۰۸)

ژ : او کومو خلکو چې یومسجد جوړ کړی دی، مسلمانانو ته د ضرر رسولو لپاره او د کفر کولو لپاره او د ایمان په خاوندانوکې دتفرقې اچولو لپاره دتم ځای جوړولو لپاره، دهغه تن لپاره چې هغه دالله تعالی او دهغه درسول الله سره په جنګ دي، قسمونه کوي چې زموږ نیت دنیکۍ نه سیوا بل نه و،او الله تعالی ګواهي ورکوي چې دا خلک دروغجن دي،ته په دې مسجدکې هیڅکله مه ودریږه، البته هغه مسجد چې اساس یې په تقوا ایښودل شوی دی(یعني قبا مسجد) واقعاً ددې لایق دی چې ته هلته ورشي او پکې ودریږي په هغه کې داسې خلک شته دي چې پاک اوسیدل خوښوي او الله تعالی خوښوي پاک اوسیدونکي.

دابن هشام په روایت کې دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د« سویلم یهودي» کور سیزلو حکم هم وکړ،په کوم کې به چې منافقین غونډیدل اودرسول الله صلی الله علیه وسلم پخلاف به یې مشورې کولې حضرت طلحه رضی الله عنه دځو ملګرو سره هلته ورغی او ویې سیزه

کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم مدینې ته نیږدې ورسید نو داستقبال لپاره یې په رسول الله

صلی الله علیه وسلم مینان اوعاشقان راووتل او وړو نجونو لاندې شعرونه زمزمه کول:

طَلَعَ البَدرُ عَلَينَا　　مِن ثَنِيات الوَدَاعِ
وَجَب الشُّكرُعَلينا　　مَا دعَا لِله دَاعِ
اَيّها المبعُوثُ فينآ　　جِئتَ بالاَمرِ المُطَاع

کله چې دمدینې کورونه ښکاره شول نوویې فرمایل: «هذه طابة» دا مدینه پاکه ده او کله چې اُحد غر،ورته ښکاره شو ویې فرمایل:هذا جَبلٌ يُحبُنا ونحِبُهُ

داغرله موږ سره محبت کوي اومونږ له ده سره محبت لرو

دا دشعبان پای او درمضان پیل و، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم مدینې ته داخل شو،اوبیا نبوي مسجد ته لاړ،دوه رکعته لمونځ یې وکړ،کله چې دلمانځه نه فارغ شوخلکو سره دلبدلو لپاره ترڅه څنډه ناست و، بیا دهغه نه وروسته ددمې جوړولو لپاره کورته لاړ (شرح مواهب)

دا وروستۍ غزا وه چې پخپله رسول الله صلی الله علیه وسلم پکې ګډون وکړ.

مُتَخَلِفین: تبوک غزوې نه پاته شوي کسان

کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم تبوک ته روانیده،نومخلصین مومنان هم ورسره ملګري وو او ورسره روان شول اودمنافقینوپه دله پاته شوه،خو څوتنه مخلص مومنان ددنفاق په وجه نه بلکې دځینوعذرونوپه وجه لاړنشول اوځیني دبشریت په مقتضا دګرمۍ اودمشقت له ډاره پاته شول

ابوزري غفاري رضی الله عنه اوښ کمزوری و،هغه فکر وکړ چې څو ورځې به اوښ ته خواړه ښه ورکړم، چې دتلو وړښې بیا به روان شم او درسول الله صلی الله علیه وسلم سره به یوځای شم، خوکله چې دخپل اوښ نه مایوس شو،نوخپل خواړه او ضرورت سامان یې شاته کړاو پسې پلې روان شو اوپه دې توګه یواځې تبوک ته ورسید، ناګارصیب همدیته په پام ویلې:

تبوک انځوروي په مندې پلې ابوذر

کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ولیدل ویې فرمایل: الله دي رحم وکړي ابوذر یواځي روان شوی دی، یواځي به وفات کېږي، او یواځي به پورته کېږي

بیاهمدا سې وشول په«ربذه» نوم ځای کې دمدینې منورې څخه بیرون په تنهائي کې وفات شو،دتکفین اوتجهیز لپاره یې څوک نه وو،اتفاقاً عبد الله بن مسعود رضی الله عنه دکوفې نه مدینې منورې ته روان و،هغه یې تکفین اوتجهیز وکړ(فتح الباري ۸توک۸۸مخ)

په معجم طبراني کې له ابوخیثمه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم تبوک ته روان شو او زه په مدینه کې پاته شوم،سخته ګرمې وه،یوه ورځ زما کورنۍ ما لپاره څپر لاندې اوبه وشیندلې، یخې اوبه اوخواړه یې راوړل، زما لپاره کینبودل،ددې منظر پر لیدو ناڅاپه په زړه کې مې یو درد پیدا شو،چې په خدای سوګند دا سراسرنا انصافي ده چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به په ګرمۍ کې وي، اوزه دې دلته یخ سیوري ته ناست یم،اوعیش وعشرت دې کوم،سملاسي پورته شوم اوپه منده روان شوم، کله چې لښکرمې ولید،رسول الله صلی الله علیه وسلم له لرې څخه ولیدم،اوویې فرمایل:ابوخیثمه را روان دی،زه حاضرشم ټوله واقعه مې ورته بیان کړه،رسول الله صلی الله علیه وسلم ماته دخیر دعا وکړه،دهمدې مومنانوصالحانو څخه کعب بن مالک،او مرارة بن ربیع اوهلابن امیه هم ول

په صحیح بخاري کې دکعب بن مالک څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم روان شو،اوزه دسفر لپاره دځان په تیارولو بوخت وم،په دې فکر چې په یودوه ورزو کې به سامان تیارکړم، اودرسول الله صلی الله علیه وسلم سره به یوځای شم،په همدې کې راباندې څندراغی،اوقافله راڅخه لرې ووته، اوپه مدینه منوره کې له معذورینو او منافقینو پرته بل څوک نه ووپاته، کله به چې ما دامنظر لیده، نو ډیر زیات به غمجن او وځوریدم، کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم تبوک نه راستون شو، منافقینو د دروغو عذرونه بیانول شروع کړل، رسول الله صلی الله علیه وسلم ظاهراً دهغوی عذرونه اومنل او د زړونو حال یې الله ته وسپاره

په مغازي ابن عایذ کې دي چې کعب بن مالک وایي، ما داعزم وکړ، چې هیڅکله داسې نکوم چې دعزا نه هم وروسته پاته شوی هم یم اوبیا دالله تعالی رسول ته دروغ هم ووایم،نودرسول الله په خدمت کې حاضرشوم ورته سلام مې وکړ، رسول الله رانه اعراض وکړ،ما عرض وکړ:

دالله رسوله (صلی الله علیه وسلم) له ما ولې اعراض کوي په خدای سوګندزه ته منافق یم،او نه ماته شک پیداشوی دی اونه زه داسلام څخه ګرځیدلی یم

رسول الله صلی الله وعلیه وسلم وفرمایل:ولې وروسته پاته وې؟ماعرض وکړ:یا رسول الله! که زه دکوم دنیادارپه محکې ناست وی دهغه دغوسې سړولو لپاره به مې خبرې جوړې کړې وې، خوته دالله تعالی رسول یې،که زه نن تاته دروغ ووایم، تایه راضي کړممکن سبا خدای تعالی تا له ما نه ناراضه کړي، اوکه تاته رښتیا ووایم په دې سره خوبه ته ناراضه شي خو زه دالله تعالی نه امید لرم چې هغه به مې معاف کړي حقیقت دادی چې زه هیڅ عذرنلرم اوقصور واریم .

رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:دې سړي رښتیا، رښتیا وویل، څه ترهغه چې الله تعالی ستاسوپه باره کې کوم حکم نازل کړي

همداسې مرارة بن ربیع او هلال بن امیة درسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کې حاضرشول پخپل قصوریې اعتراف وکړ،رسول الله صلی الله علیه وسلم حکم کړ چې پنځوس ورځې دي څوک له دې درې کسانو سره خبرې نکوي

نوپه دې سره ټولو موږ سره سلام کلام قطع کړ،خپلوان او دوستان رانه بیګانه شول،کعب وایي:زما دواړه ملګري خو دضعف په وجه په کوروکیناستل،شپه ورځ به یې په ژړه تیروله زه ځوان وم،جماعت ته به حاضریدم،غرض داچې پنځوس ورځې په همدې پریشانۍ کې تیرې شوې تردې چې الله تعالی په موږ زمکه تنګه کړه،ترټولو زیات فکر دا راسره و که په دې وخت کې مرګ راغی راته، نورسول الله صلی الله علیه وسلم اوصحابه زما جنازه هم ونکړي،له پنځوس ورځو وروسته ناڅاپه دسلع غره نه مې غوږوته دازیری ورسید:

یا کعب بن مالک أبشِر

اې کعب بن مالکه! زیری درکوو

ددې په اوریدو سره زه په سجده پریوتم، اوپوی شوم چې مشکل لرې شو.رسول الله صلی الله علیه وسلم اعلان وکړ:دهغوی توبه قبوله شوه

له هرلوري څخه خلک ماته اوزماملګروته دزیري اومبارکۍ ورکولولپاره په منډوشول ابن اسحاق وایي په یوروایت کې دي: لِتَهنِک تَوبةُ الله علیک

مبارک شه تاته، الله تعالی ستا توبه قبوله کړه

کوم شخص چې ماته زیری راوړو،سملاسي ما هغه ته خپلې کالي وویستل او ورمې کړل،بیا درسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کې حاضرشوم، رسول الله صلی الله علیه وسلم دغه مهال په مسجد کې و، ما چې کله په مسجدکې قدم کیښود حضرت صلحه بن عبید الله رامنده کړه اوماسره یې مصافحه وکړه اومبارکې یې راکړه، کعب وایي له نورو ناستو خلکوڅخه بل تن راپورته نشو،په خدی تعالی سوګند زه به دطلحه دا احسان کله هم هیرنکړم،درسول الله صلی الله علیه وسلم مخ مبارک دسپورمي پشان ځلیده؟ ما ورته سلام وکړ،رسول الله صلی الله علیه وفرمایل:

أبشِربِخَيرِ يَومٍ مَرَّ عَلَيكَ مُنذ وَلَدَتكَ أُمُكِ

ژ:تاته دې مبارک وي، له هغه نه چې ته خپلې مور زیږولې یې دا ورځ به تا لپاره ترټولو غوره وي

کعب بن مالک وویل:په کومه ورځ چې ما اسلام قبول کړهغه ورځ ترټولو غوره ورځ وه، په حقیقت کې دا ورځ دهغه ورځې نه هم غوره وه چې په دې ورځ الله تعالی یې توبه قبوله کړه. چې ورسره دنوموړي په ایمان او اخلاص باندې دټل لپاره مهر ولګیده،او دا ایتونه دنوموړي په حق کې نازل شول:

لَقَدْ تَابَ اللَّهُ عَلَى النَّبِيِّ وَالْمُهَاجِرِينَ وَالْأَنْصَارِ الَّذِينَ اتَّبَعُوهُ فِي سَاعَةِ الْعُسْرَةِ مِنْ بَعْدِ مَا كَادَ يَزِيغُ قُلُوبُ فَرِيقٍ مِنْهُمْ ثُمَّ تَابَ عَلَيْهِمْ إِنَّهُ بِهِمْ رَءُوفٌ رَحِيمٌ ﴿ وَعَلَى الثَّلَاثَةِ الَّذِينَ خُلِّفُوا حَتَّىٰ إِذَا ضَاقَتْ عَلَيْهِمُ الْأَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ وَضَاقَتْ عَلَيْهِمْ أَنفُسُهُمْ وَظَنُّوا أَن لَّا مَلْجَأَ مِنَ اللَّهِ إِلَّا إِلَيْهِ ثُمَّ تَابَ عَلَيْهِمْ لِيَتُوبُوا ۚ إِنَّ اللَّهَ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ (۱۱۸)

ژباړه: په تحقیق سره الله تعالی پخپل خاص رحمت اوعنایت سره متوجه شو پیغمبرته مهاجرینو اوانصاروته کومو چې دسختۍ او دشواری په وخت کې دپیغمبر ملتیا کړې وه (بوقت تنګدستي آشنا بیګانه می گرددصراحی چون شود خالی جدا پیمانه می گردد)وروسته دهغوی دیوې ډلې په زړه کې نیږدې وچې تزلزل کړی و، بیا الله تعالی په هغوی توجه وکړه او الله تعالی ډیر شفیق او مهربان دی، او الله تعالی پام وکړ په هغودرې تنوته چې دهغوی معامله موقوف او وروسته کړی شوې وه تردې پورې چې کله زمکه سره دارتوالي نه په هغوی تنګه شوه او دهغوی ځانونه په هغوی تنګ شول او هغوی داسې وفهموله چې دهغوی ځانونه هم ورباندې تنګ شوي دي او هغوی داسې ګومان وکړ چې دالله تعالی دنیولوڅخه پناه نشته سیوا ددینه چې هغوی الله تعالی ته رجوع وکړي بیشکه الله تعالی لوی توبه قبلونکی او مهربان دی اې دایمان ځښتنانوله خدایه ودارشئ او درښتیاوو سره شئ(التوبه ۱۱۷-۱۱۹)

حضرت کعب بن مالک رضی الله عنه وایي ما رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وویل: دالله رسوله! ددې توبې قبلیدو په شکرکې زه خپل ټول مال خیراتول غواړم، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: یوڅه دخان لپاره وساته

نوپه خیبرکې چې زما کومه برخه وه هغه مې وساتله او پاته نور ټول مال مې خیرات کړ، اوبیا مې عرض وکړ دالله رسوله!

الله تعالی ماته یواځې په رښتیا ویلوسره نجات راکړ، زه دخپلې توبې تکمله او تتمه داګنم چې ترمرګه به د رښتیاوو پرته یوه خبره هم نه کوم (بخاري وفتح الباري ۸توک۸٦مخ)

نوربیا...

جنګي جنایتونه (اپریل)

سید سعید

د ۲۰۲۰ز، کال د اپریل د میاشتې په لومړۍ نیټه د فاریاب ولایت د لولاش ولسوالۍ د چشمه سنګین په سیمه کې د داخلي عسکرو دهاوان په ډزو کې دوه ماشومان شهیدان شوي دي.

داپریل په لومړۍ نیټه د زابل ولایت د مرکز قلات د لورو هوتکو پر کلي دحکومتي خواکونو په چاپه کې یو ملکي هیوادوال شهید شوی دی.

داپریل په لومړۍ نیټه دبادغیس ولایت د سنګ آتش ولسوالۍ د جعفریانو په سیمه کې اربکیانو اته تنه ملکي هیوادوال لومړی وهلي او بیا یې بندیان کړي دي.

داپریل په لومړۍ نیټه دبادغیس ولایت د بالامرغاب ولسوالۍ د جوي خوجي د پساو په سیمه کې د داخلي عسکرو دهاوان په ډزو کې دوه ماشومان شهیدان او یو بل ژوبل شوی دی.

داپریل په لومړۍ نیټه د جوزجان ولایت د مردیان ولسوالۍ په مردیان کلي کې د داخلي عسکرو د توپچي په ډزو کې یو ملکي وګړی شهید او یو بل تن ژوبل شوی دی.

د اپریل په ۲مه د بدخشان ولایت د جرم ولسوالۍ په خستک سیمه کې دحکومتي قواوو په بمبار کې دوه ماشومان او یوه میرمن شهیدان شوي دي.

داپریل په ۲مه د فراه ولایت دپشترود ولسوالۍ مرکز کې دحکومتي خواکونو په هوایي برید کې یو ملکي وګړی شهید او دنوموري زوی ټپي شوی دی.

د اپریل په ۳مه د زابل ولایت د شهرصفا ولسوالۍ دمحمدزي اکا کلي کې داخلي عسکرو ملاامام (مولوي عبدالستار) وهلی او لاسونه یې ورمات کړي او دنوموري زوی یې شهید کړی دی.

د اپریل په ۴مه د زابل ولایت د ارغنداب ولسوالۍ د فقیرزو په مرخنجک کلي کې یرغلګرو د جنازې پر موټر برید کړی چې له املې یې پنځه تنه ولسي وګړي شهیدان او ټپیان شوي دي.

داپریل په ۴مه د ارزګان ولایت د خاص ارزګان ولسوالۍ د ګرم آب په قحط زو سیمه کې ګډو خواکونو د یو ملکي هیوادوال(حاجي عبدالکبیر اکا) پر کور بمبار کړی، په دغه بمبار کې پنځه تنې بنځې او دوه ماشومان شهیدان او د همدې کورنۍ دمشر حاجي عبدالکبیر په ګډون ددغه کور اته تنه نور غړي ټپیان شوي دي.

داپریل په ۵مه د میدان وردګ ولایت د سیدآباد ولسوالۍ د شیخ اباد سیمه کې د داخلي عسکرو دهاوان په ډزو کې یو ملکي وګړی شهید او یوه بنځه ټپي شوې ده.

داپریل په ۶مه د بغلان لایت د پلخمري ولسوالۍ په ډنډ غوري سیمه کې د حکومتي خواکونو دهاوان په ډزو کې درې تنه ملکي وګړي شهیدان او ټپیان شوي دي.

د اپریل په ۶مه د میدان وردګ ولایت د نرخ ولسوالۍ په تیمور دره کې حکومتي عسکرو دوه ملکي وګړي شهیدان کړي او یوه میرمن یې ټپي کړې ده.

د اپریل په ۷مه د کندهار ولایت د دامان ولسوالۍ په خوشاب سیمه کې د یرغلګرو په ډرون برید کې څلور ماشومان شهیدان شوي او اته تنه ملکي وګړي ټپیان شوي دي.

داپریل په ۸مه دهلمند ولایت د نادعلي ولسوالۍ دنري مانده په سیمه کې د داخلي عسکرو دتوپچي په ډزو کې یوه ښځه شهیده او دوه ماشومان ژوبل شوي دي.

داپریل په ۸مه د میدان وردګ ولایت په سیداباد ولسوالۍ کې دحکومتي عسکرو دهاوان په ډزوکې یوه میرمن شهیده شوې او یو سړی ژوبل شوی دی.

داپریل په ۸مه د میدان وردګ ولایت د سیداباد ولسوالۍ په پټان خیلو سیمه کې حکومتي ځواکونو یو مسجد بمبار کړی، په دغه بمبار کې د محمد نور په نوم یو ملکي وګړی او زوي یې شهیدان شوي او څینو کورونو ته زیان هم اوښتی دی.

داپریل په ۹مه د بغلان ولایت د پلخمري ولسوالۍ په ګدای خیلو کلي باندې داخلي عسکرو د دې سې توپونو ډزې کړې چې له املې یې یو کور تخریب شوی او یوه میرمن پکې شهیده شوې ده.

د اپریل په ۹مه د بدخشان ولایت د ارګو ولسوالۍ اسپینګل سیمه کې حکومتي ځواکونو د واده په مراسمو بمبار کړی، چې له کبله یې یو ملکي هیوادوال(حمیدالله) او یوه میرمن شهیدان شوي دي.

داپریل په ۱۰مه یرغلګرو دکندهار ولایت دشاولیکوټ ولسوالۍ اود زابل ولایت دمیزاني ولسوالۍ ترمنځ د سله په سیمه کې د یو ملکي هیوادوال(سردارمحمد) پرکور ډرون برید کړی، په دغه برید کې دنوموړي په ګډون دوه ماشومان شهیدان شوي او دکورنۍ پنځه تنه نور غړي یې ټپیان شوي دي.

د اپریل په ۱۰مه یرغلګرو او حکومتي ځواکونو د بدخشان ولایت د وردوج ولسوالۍ په استرب، باشند، یومل او تیرګران کلیو کې داستوګنې پر سیمو بمبار کړی، په دغه بمبار کې درې تنه ملکي وګړي شهیدان شوي او ګڼ نور ټپیان شوي، داسترب کلي جامع مسجد تخریب شوی او دملکي هیوادوالو ګڼ کورونه زیانمن شوي دي.

د اپریل په ۱۶مه د غزني ولایت د اب بند ولسوالۍ د دریاخان خیلو کلي کې حکومتي عسکرو دکلي ملا امام (قاري محمد عبدالله) شهید کړی دی.

د اپریل په ۱۶مه د کاپیسا ولایت د تګاب ولسوالۍ په سه پدرسیمه کې داخلي عسکرو یو ملکي هیوادوال(بخت الله ولد شاه اغا) شهید کړی دی.

د اپریل په ۱۶مه د فراه ولایت دبالابلوک ولسوالی په کنسک سیمه کې داخلي عسکرو یو شپونکي شهید کړی دی.

د اپریل په ۱۷مه د پکتیا ولایت مرکز اړوند ابراهیم خیلو سیمه کې د حکومتي عسکرو دهاوان په ډزو کې د یوې کورنۍ شپږ تنه ښځې او ماشومان شهیدان او ټپیان شوي دي.

د اپریل په ۱۸مه د تخار ولایت د ځمک اب ولسوالۍ کې حکومتي عسکرو د ولسي خلکو پنځه کورونه سوځولي او خلکو ته یې پراخ مالي تاوان رسولی دی.

داپریل په ۱۸مه د بادغیس ولایت د سنګ آتش ولسوالۍ د بادروکي په سیمه کې داخلي عسکرو یو ملکي وګړی شهید کړی دی.

د اپریل په ۱۹مه د زابل ولایت دارغنداب ولسوالۍ د سرهزارخیلو کلي ته خیرمه داخلي عسکرو یو ملکي وګړی(عتیق الله د طاهرکاکا زوی) چې په خپل پټي کې یې اوبه لګولې شهید کړی دی.

داپریل په ۱۹مه د کاپیسا ولایت د اله سای ولسوالۍ په جنګیز سیمه کې د داخلي عسکرو په ډزو کې یو ملکي وګړی شهید شوی دی.

داپریل په ۲۰مه د زابل ولایت د اتغر ولسوالۍ د رسول خیلو په کلي کې حکومتي عسکرو یوه ديني مدرسه ویجاړه کړې، ګڼ کتابونه، درسي مواد او سامانونه پکې تر خاورو لاندې شوي دي.

د اپریل په ۲۲مه دبلخ ولایت د خاص بلخ ولسوالۍ په ګلشن کلي کې دحکومتي خواکونو د ډیسې توپونو په ډزو کې دوه تنه ملکي وګړي شهیدان شوي دي.

داپریل په ۲۲مه د جوزجان ولایت د خمآب ولسوالۍ پر ځینو کلیو د یرغلګرو او حکومتي خواکونو په ډبار او توپچي ډزو کې څلور تنه ملکي وګړي شهیدان او ټپیان شوي او دمسجد او روغتون تر څنګ دخلکو ۲۲ بابه کورونه تخریب او زیانمن شوي او خلکو ته لوی مالي تاوان رسیدلی دی.

داپریل په ۲۴مه د بدخشان ولایت مرکز اتمې ناحیې بندکوچنک سیمه کې دحکومتي الوتکو په ډبار کې څلور تنه ولسي هیوادوال شهیدان شوي او نامعلوم شمېر ژوبل شوي دي .

د اپریل په ۲۵ مه د فاریاب ولایت د بلچراغ ولسوالۍ مرکز کې اربکیانو دملکي خلکو څلور کورونه سوځولي او خلکو ته یې پراخ مالي زیانونه رسولي دي.

د اپریل په ۲۷مه حکومتي خواکونو د فراه ولایت دبالابلوک ولسوالۍ د کنسک کلي دکښته ښاخ پر لوی مسجد د ټقیله وسلو ډزې کړې چې له امله یې یو ملکي وګړی(حاجي محمدرفیق کاکا) شهید شوی دی.

د اپریل په ۲۸مه د جوزجان ولایت د آقچې ولسوالۍ په قریه سرخ باندې حکومتي عسکرو دهاوان پیرونه کړي چې له امله یې یو ملکي وګړی شهید او یو ماشوم ژوبل شوی دی.

د اپریل په ۲۸مه دغور ولایت دمرکز فیروزکوه د بادروک په سیمه کې حکومتي عسکرو دملکي خلکو پر کورونو چاپه وهلې، خلک له داره د نږدې غره په لور تښتیدلي، خو حکومتي الوتکو په ښکته کړي او اووه تنه ملکي وګړي یې پکې شهیدان کړي دي.

د اپریل په ۲۸مه د بدخشان ولایت د کوهستان ولسوالۍ په شپو سیمه کې حکومتي الوتکو یو بزګر چې په پټي کې یې قولبه کوله شهید کړی دی.

داپریل په ۲۸مه د فراه ولایت دبالابلوک ولسوالۍ د شیوان په سیمه کې داخلي عسکرو یو ملکي وګړی شهید او یو بل زخمي کړی دی.

د اپریل په ۲۸مه د دایکندي ولایت د کجران ولسوالۍ په بالا دښت سیمه کې د اشغالګرو په درون برید کې یو ملکي وګړی شهید شوی دی.

د اپریل په ۲۹مه د بلخ ولایت د خاص بلخ ولسوالۍ په افلاس پوښ سیمه کې د حکومتي عسکرو دټقیله وسلو په ډزو کې د منهاج العلوم په نوم مشهوره دیني مدرسه او مسجد تخریب شوي دي.

د اپریل په ۲۹مه دفاریاب ولایت د شیرین تګاب ولسوالۍ د کوه صیاد او تورتکل په سیمو کې داخلي عسکرو داستوګنې پر سیمو دهاوان پیرونه کړي چې له امله یې یوه میرمن شهیده شوې او شپږ تنه ملکي وګړي ژوبل شوي دي.

داپریل په ۲۹مه د کندز ولایت مرکز اروند زاخیلو سیمه کې داخلي عسکرو دولسي وګړو پر کورونو دهاوان ډزې کړې چې له امله یې یو سپین ږیري شهید شوی او څینو کورونو ته زیان او ښتی دی.

د اپریل په ۳۰مه د لوګر ولایت مرکز اروند پورک کلي کې د داخلي عسکرو دهاوان په ډزو کې یو ملکي وګړی شهید او دښځو او ماشومانو په ګډون اووه تنه ولسي وګړي ټپیان شوي دي.

داپریل په ۳۰ مه دفاریاب ولایت د قیصار ولسوالۍ په ینګي سیمه کې دحکومتي عسکرو په ډزو کې یو ملکي وګړی شهید او یو بل ژوبل شوی دی.

د اپریل په ۳۰ مه د میدان وردک ولایت د سیداباد ولسوالۍ په سالارو بازار کې داخلي عسکرو یو د خیاطۍ دوکان او د چایو سماوار سوځولي دي.

مأخذونه :[بي بي سي راډیو،ازادي = ،افغان اسلامي اژانس ،پژواک = ،ټول افغان ویښانه ،لراوبر= ،نن تکی اسیا=اوبینوا=]

ثالث عمر

بشام

زمونږ ویاړ زمونږ سالار زمونږ رهبر و
ثاني نه لري د وخت ثالث عمر و

مقلد یې د مسیر یمه جهانه
د جهاد د اسمان ستوری منور و

د وارسا امپراطوري یې کړه نسکوره
یو اواز یو امارت یو یې سنګر و

د نفاق تیاري یې ورکې کړې له زړونو
د وحدت په تار پیایلی یې لښکر و

د بیعت هاریې په غاړه ځکه ورمه
د اشغال تورو تیارو کې زرین لمر و

د زړه چم یې را سمسور په شریعت کړ
د ولس په زړو کې ځکه معتبر و

متاثر یې د تقوا له نور بشام یم
د زړه کور کې چې ساتلی مې اطهر و

ای مکاره ټولو پېژندلی یې!

عبیدالله علم- لندن

نیه ځای دې لیدلی چې دعوا کوې
خپله جرم وکړی تور په ما کوې

زه د دښمنی حریم کی اوسمه
ته یې د مظلوم په سر سودا کوې

خپله چوکی د وینو په بدل ساتې
برید په ولسو باندې په غلا کوې

ای مکاره ټولو پېژندلی یې
دیر ظلم مرموز دیر برملا کوې

زه له دین وطن ځخه دفاع کوم
ته غلامه چا سره وفا کوې

زه علم حیران ستا دا ضمیر ته یم
ټول وطن می ژاړي ته خندا کوې

یوسړی و

مل غنی خپل
حالاتو ته ولاړ د غره په شان وو یو سړی وو.
پخپل عزم کې کلک لکه سندان وو یو سړی وو.

سمبول د توکل او د عمل وو داسې څوک وو.
فاتح د غزاګانو د میدان وو یو سړی وو.

بلا ډیرو لښکرو یې پرویاندې شکست وخوړ.
په یو ځان یې مات کړی ټول جهان وو یو سړی وو

د وخت جبر یې بیا هم سپین مسیر تکنی نکړ
په نړه د عمر پر پله روان وو یو سړی وو.

امیر المؤمنین وو، مجاهد محمد عمر وو.
زما مل غني خیل زړه پرې ودان وو یو سړی وو.

د څنګ ملګري

مهاجر

یو څو د څنګ ملګري او یاران راباندې ګران دي
یو څو د خوږې مینې پتنګان راباندې ګران دي

یو څو لکه نرګس لکه ګلاب لکه رېدي دي
یو څو لکه چمبیل لکه ریحان راباندې ګران دي

یو څو د غرب ومخته لکه نر غوندې ولاړ دي
یو څو د سپین ارمان پلور روان راباندې ګران دي

یو څو د سترګو تور ګنم په زړه کې یې ساتمه
یو څو راباندې نبه لګې تر ځان راباندې ګران دي

یو څو قدر مند خلک د خوږو شهتو په څیر دي
یو څو د عمري مینې ځوانان راباندې ګران دي

یو څو د مهاجرد ګل وطن ستري هستۍ دي
یو څو د نړۍ بچي د خراسان راباندې ګران دي

د افغانستان اسلامي امارت ویاند

ذبیح الله مجاهد سره د پیام افغان مرکه کې مهم ټکي:

(۱) د امریکا لپاره د اوسني فرصت نه بل ښه فرصت د خواکونو د ایستلو لپاره نشته.

(۲) د بندیانو په نه خلاصولو کې اولنۍ مسئولیت امریکا ته راجع دی.

(۳) مونږ په توافقنامه کې خپله ژمنه ترسره کړې، د امریکایانو مسئولیت دی چې خپل تعهدات پوره کړي او که نه د تعهد ماتونې پره به د امریکا په غاړه وي.

(۴) هغه څوک چې د جنګ اعلانونه کوي او بمبارونو او بریدونو ته دوام ورکوي، د مرګ ژوبلې پره هم د هغوی په غاړه ده.

(۵) مونږ به کوشش وکړو چې ټول جهتونه دې ته قانع کړو چې د جنګ له پالیسۍ نه لاس په سر شي او پریږدي چې اشغال ختم او اسلامي نظام حاکم شي.

(٦) مونږ هڅه کوو، هغه غوټه چې د نظامي لارې خلاصیږي د سیاسي هڅو له لارې خلاصه کړو.

(۷) ملت زمونږ په اړه قضاوت کولی شي چې په شفاخانه او جنازه څوک برید کوي.دا یوه احمقه ډله ده چې دا بریدونه کوي ترڅو بیا زمونږ په خلاف تري تبلیغاتي استفاده وکړي.

(۸) مونږ داسې ګډوډي ته نه ورننوځو چې په هغې کې به شریر، نا اهله او خاینان په داسې حال کې وي لکه دا اوس چې دي، بلکې دوی ټول به په خان کې اصلاحات راولي. په دې صورت کې شرعا هم ستونزه نشته.

(۹) که امریکایان ووځي بیا د کابل اداره د یتیمانو په شان پاتې کیږي، بیا به په ډیره بده ورځ له مونږ سره خبرو ته کښیني. ښه دا ده چې د کابل اداره له اوسني فرصت نه استفاده وکړي.

(۱۰) په مذاکراتو کې مونږ د فساد جزء نه جوړیږو، مونږ به مفسدین کیږو نه، بلکې مفسدین به اصلاح کیږي.

(۱۱) ملت زمونږ تر شا دی، زمونږ تمویل کوونکی دی، زمونږ خپل ملت زمونږ د امن او رشد غیږ ده.

(۱۲) په بدخشان، فاریاب، کندز، بلخ او هغو ولایتونو کې چې د پاکستان په فاصله کې دي، هلته زمونږ قوتونه موجود او د خلکو حمایت راسره دی. دا لوژستیک به د یوې خوا نه راروان فرض کړو، دا تنکي تنکي خوانان مونږ ته له کومه کیږي؟

(۱۳) زندانونو ته لاړ شئ وګورئ ایا کوم پنجابي پکې وینئ؟ د بل هیواد کوم تبعه وینئ؟دا چې زمونږ خوانان افغاني دي، زمونږ لوژستیک هم افغانی دی او له خپلې خاورې تمویلیږو. په دې اړه تخریبي پوښتنې اوس له وخته تېرې دي.

(۱۴) د عسکرو، پولیسو او اریکیانو په نامه غولیدو ته دعوت ورکوو چې د مفسدینو لپاره نور خپل خان قربان نه کړي او د اشغالګرو د موخو لپاره استعمال نه شي.

(۱۵) مونږ هیڅکله حاضر نه یو چې له مفسدینو سره د قدرت شریکوال شو او د هغه نظام جزء وګرځو چې دوی یې برخه دي.

(۱٦) افغانان دې ته اړتیا لري چې ګاونډیو سره ښې اړیکې ولري، همدارنګه د ګاونډیو نه هم غواړو چې نور یې له اړیکې نورمالې وي او مداخله نه وي.

(۱۷) دا دلیل معقول نه دی چې عسکر د اقتصادي مجبوریت له مخې عسکري ته ځي، کاشکې یې دا کار نه کولی، دا خو د ببل او کولنګ مزدوري نه ده، ډوډۍ تنها په دې کې نه ده چې مونږ ووژني او خپلو اولادونو ته ډوډۍ پیدا کړي.

(۱۸) ډیورنډ کرښه د دوه ملتونو مسئله ده، مونږ دا حق نه خان او نه بل نظام ته ورکوو چې په دې باندې تصمیم ونیسي. په دې اړه باید دواړه ملتونه پریکړه وکړي په داسې وخت کې چې مونږ له جنګ وتلي یو او سالم واحد مرکزي نظام منځته راغلی وي.

(۱۹) هیڅوک دا نه شي ثابتولی چې مونږ په یو روغتون برید کړی وي. مونږ ولې په روغتون برید وکړو، زمونږ جهادي فریضه دې کار ته اجازه نه ورکوي. نه منطقي ده او نه یې مونږ ته کومه ګټه شته.

MORCHAL

Islamic, Jihady, Educational
and Cultural Monthly Journal